د افغانستان اسلامي جمهوريت

د مالیي وزارت

د ۱۳۹۲ مالي کال د ملي بودجې مسوده

د ملي ګټو لپاره یوه اغیزمنه، رښه او پر پایلو ولاړه بودجه



بسم الله الرحمن الرحيم

د 1392 مالي کال د ملي بودجې لړليک

شمیره	تفصـــــــــــــــــیل	صفحه
1	د 1392 کال د بودجې د ځغلنده لنډیز	1-16
2	منځ مهاله مالي چوکاټ 1388-1394	17
4	دپورونو راپور	18-20
5	د بودجې د اجراء اصولنامه	21-23
6	د 1392 کال ملی بودجه	24-26
7	د 1392 مالي کال د ملی بودجې لنډیز او د تمویل سرچینې	27
8	د 1392 مالی کال ملي بودجه او د تمویل سرچینې	28
9	د 1392 مالي کال د ملي بودجې د تمویلی منابعو تفصیل	29-30
10	د 1392 مالی کال عادي بودجه	31-34
11	د 1392 مالي کال پرمختیايي بودجه (اختیاري او غیراختیاري)	35-38
12	**د پرمختیايي پروژو جدول د ملي پرمختیايي ستراتیژی د سکتورونو پرښتې**	**39-89**
	د امنیت سکتور	**39-41**
13	د کورنیو چارو وزارت	39
14	د ملي امنیت لوي ریاست	40
15	د امنیت شورای او د رئیس جمهور د ساتنې ریاست	40
16	د بهرنیو چارو وزارت	40
17	د ملي دفاع وزارت	41
	د واکمنی ،د قانون د حاکمیت او بشري حقونو سکتور	**42-47**
18	د اداري اصلاحاتو او د ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون	42
19	د چارو د اداري او د وزیرانو د شورا دارالانشا	42
20	د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د ستراتیژۍ پر پلي کولو د څار اداره	42
21	د دولت د ریاست دفتر	42-43
22	د سیمه ئیزو ارګانونو خپلواکه اداره	43-44
23	ستره محکمه	44
24	ملي شورای، مشرانو جرګه	44-45
25	ملي شورای، ولسي جرګه	45
26	لویه څارنوالي	45
27	د حج،ارشاد او اوقافو وزارت	45-46
28	د عدلیي وزارت	46
29	د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون	46
30	د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون	47
	د زیربناوو او طبیعی زیرمو سکتور	**48-63**
31	د ټولګټو وزارت	48-52
32	د نوی کابل خپلواک بورد	52
33	دافغانستان برشنا شرکت	52-54
34	د جیودوزي او کارتوګرافي ریاست	54
35	د چاپیریال ساتنې ملی اداره	54
36	د کابل ښاروالي	54-55
37	د اوبو رسولو او کانالیزاسیون شرکت	55-56

شمیره	تفصـــــــــــــــــیل	صفحه
38	د ښار جوړولو د چارو وزارت	56
39	د اوبو او انرژۍ وزارت	57-61
40	د ټرانسپورټ او ملکي هوانوردۍ وزارت	61
41	د مخابراتو وزارت	62
42	د کانونو وزارت	62-63
	د پوهنې سکتور	**64-71**
43	د لوړو زده کړو وزارت	64-66
44	د پوهنې وزارت	66-69
43	د علومو اکاډمي	69-70
44	د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت	70-71
45	د بدني روزنې او سپورټ ریاست	71
	د روغتیا سکتور	**72-75**
46	د عامې روغتیا وزارت	72-75
	د کرهنې او کلیو پراختیا سکتور	**76-81**
47	د کلیو پراختیا او بیارغونې وزارت	76-77
48	د کرهنې اوبه لګولو او مالدارۍ وزارت	78-81
49	له نشه یې توکو سره د مبارزې وزارت	81
	د ټولنیز مصؤنیت سکتور	**82-84**
50	له طبیعي پیښو سره د مبارزې له پاره د چمتووالي ملي اداره	82
51	د کوچیانو د چارو د همغږې کولو ریاست	83
52	د ښځو چارو وزارت	84
53	د سرحدونو، قومونو او قبایلو د چارو وزارت	85
54	د کډوالو او بیا را ستنیدونکو د چارو وزارت	83
55	دکار، ټولنیزو، شهیدانو او معلولینو د چارو وزارت	83-84
	د اقتصادي چارو د اداري او د خصوصي سکتور د پراختیا سکتور	**85-89**
56	د مالیې وزارت	85-86
57	د خصوصي پانګونې د ملاتړ اداره	86
58	د افغانستان د ملي استندرد خپلواکه اداره	87
59	په افغانستان کې د وړو تمویلي سرچینو د ملاتړ له پاره د اسانتیاوو برابرول	87
60	د مرکزي احصائیې اداره	87
61	د کنترول او تفتیش اداره	87-88
62	د اقتصاد وزارت	88
63	د سوداګرۍ او صنایعو وزارت	88
64	احتیاطي کوډونه	**89**

ځغلنده کتنه:

سره له دی چې په تیره لسیزه کې بیلابیلو برخوکې د پام وړ پرمختګونه شوي دي خو تر اوسه هم افغانستان د نړۍ د بیوزلو هیوادونو په لیکه کې پاتې دی. د افغانستان د دولت تګلاره د بدلون په لسیزه کې د ځان بسیاینې په لور یون دی، د بن د دویم کنفرانس پر بنسټ د کورنیو امنیتي ځواکونو لخوا د بهرنیو ځواکونو نه د 1393 لمریز کال تر پایه د امنیتي دندو قبلولو په موخه د امنیتي سکتور پیاوړتیا ته پاملرنه کول، په دی معنا چې د ملي پوځ، پولیسو او امنیت ځواکونه په اړینه ټوګه وروزل او سمبال شي تر څو وروسته له 1393 کاله د دی جوګه شي چې د هیواد د ټولو برخو امنیت ټینګ کړي

د دې ترڅنګ د دولت تګلاره د بدلون په لسیزه کې د 22 لومړیتوب لرونکو پروګرامونو پلي کول کوم چې د 1391 کال په چنګاښ کې توکیو کنفرانس ته وړاندی شول د یو دوام لرونکي اقتصاد په لوري خوځیدنه چې په پایله کې یې د افغانستان د خلکو د ژوندانه کچه پراختیا و مومي، له دی امله په منځمهاله او اوږد مهاله مودو کې د هیواد د کیندني صنایعو" کانونو" پراختیا او د کرنې سکتور په برخو کې لا ډیرې پانګونې ته د چاپیریال په برابرولو کې ډیره پاملرنه وشي چې افغانستان په دغو دواړو سکتورونو کې په پرتله ایزه توګه ښه ګټور توب (مزیت) لري

په دی بنسټ د ته په پاملرنې سره چې د نړیوالې ټولنې 50 په سلوکې د مرستو شوې ژمنې د ملي لومړیتوب لرونکو پروګرامونو د تمویل په موخه د دولت د بودجې له لارې و لګول شي.

د دولت مالي چوکاټ باید تر ډیره بریده په مالي چارو کې اصلاحاتو، د لومړیتوب لرونکو پروګرامونو په پام کې نیولو سره د مالي سرچینو تخصیص او د پرمختیایي بودجې مصرف د وړتیاوو په لوړوالي باندې تمرکز وکړي چې په ملي بودجه کې د مرستو د جذب لامل کیږي.

په تیره لسیزه کې د دولت ډیرې پانګونې، د امنیتي ادارو په بنسټ ایښودنې، ادارې او واکمنۍ، د و اټونو، هوایي ډګرونو، اوبو بندونو په جوړولو او د بریښنا په برابرولو کې تر سره شوي دي. د کاني زیرمو څخه د ګټې په موخه د کانونو په برخه کې پانګونه تر سره شوې، د کرنې سکتور د امکان تر بریده پراختیا موندلې ده او د کلو د پراختیا د پروګرامونو له لارې د کلو د ژوندانه کچه لوړه شوېده. د لومړي ځل لپاره په ډیرې ولایتونو کې د ولسوالیو او کلو سرکونه جوړ او قیر شوي دي. د دې لسیزې په اوږدو کې د عمومي زده کړو د زده کوونکو شمیر شاوخوا 8.6 میلیونو تنو ته، د اسلامي زده کړو د زده کوونکو شمیر شاوخوا 218 زره تنو ته او د تخنیکي زده کړو د زده کوونکو شمیر 53 زرو تنو ته رسیدلې دی. د دې تر څنګ په ډیرې ودانۍ، په ځانګړي ډول په ولایتونو کې نوي ښوونځي رامنځته او بیا رغول شوي دي او د لوست نوي توکي تدوین او چاپ شوي دي. د روغتیا د لومړنیو اسانتیاوو د برابرولو له لارې چې د روغتیا د سکتور له لوري وړاندې کیږي، د مور او ماشوم د مړینې کچه راټیټه شوېده او د نورو ناروغیو له امله هم د مړینې کچه راټیټه شوې ده. د مهارتونو د ودې د پروګرام پلي کول ډیر اغیزمن دې او هر کال د 30,000 په شاوخوا کې له نوموړي پروګرام څخه فارغیږي او له همدې لارې څخه ورته د کار فرصتونه موندل کیږي. مالیاتي او سوداګریزې اسانتیاوې برابرې شوې او له همدې امله په هیواد کې سوداګري د ودې په حال کې ده.

د تیرو څو کلونو په اوږدو کې د کورنیو عوایدو د راټولولو په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې تر سره شوي دي. په 1389 او 1390 کلونو کې د کورنیو عوایدو د ودې کچه په ترتیب سره 26.3% او 24% ؤ، د سلنې له مخې د هیواد کورني نا خالصه تولیدات په 1388 کال کې له 10.3% څخه په 1390 کې 11.4% ته لوړ شوي دي.

په همدې ډول د نوموړو پرمختګونو په پام کې نیولو سره چې د ملي بودجې د پلي کولو او خصوصي سکتور د فعالیتونو په ترڅ کې رامنځته شوي دي، د هیواد اقتصاد په منځني ډول په 1387 الی 1391 کې د 9.8 سلنه ریښتیني اقتصادي ودې شاهد ؤ، سرانه عاید په کورنیو نا خالصه تولیداتو باندې په 1387 کې له 370 امریکایي ډالرو څخه په 1391 کې 640 امریکایي ډالرو ته زیاتوالې موندلې دې. طمه کیږي چې د افغانستان اقتصاد به په منځمهاله موده کې خپلې ودې ته دوام ورکړي او وړاندوینه کیږي چې کورني نا خالصه تولیدات GDP به په 1392 کال کې د 11 سلنې زیاتوالې له امله 22.340 میلیاردو امریکایي ډالرو ته زیاتوالې و مومي، د مالي پړسوب یا انفلاسیون کچه 6.7 اټکل شوې ده خو نوموړې کچه به په منځمهاله موده کې 5 ٪ ثابته پاتې شي.

وړاندوینه کیږي چې د 1392 مالي کال بودجه د GDP 31 سلنه تشکیل کړي چې د دې جملې څخه ښايي د پرمختیایي بودجې وندې د دولتي پانګونې په ډول د کورنیو نا خالصه تولیداتو شاوخوا 14 سلنه تشکیل کړي، چې د تیر کال په پرتله 5 سلنه زیاتوالې په ګوته کوي، چې د پرمختیایي زیربنایي پروژو لپاره د بودجې په ځانګړتیا او د ملي بودجې په برخه کې د مرستو د جذب لپاره

یو غوره اقدام دې چې په پایله کې یې لا زیاته اغیزمنتیا او مولدیت رامنځته کیږي. د پورته لاسته راوړنو سره سره، بیا هم اړینه ده چې د لومړیتوب وړ لویو پروژو او پروګرامونو ته د منابعو ځانګړتیا ته ادامه ورکړل شي او په همدې ډول باید د 1392 مالي کال د نوي اختیاري پرمختیایي بودجې په تخصیص کې د مالي منابعو په پام کې نیولو سره د لومړیتوب اصل په جدي ډول په پام کې ونیول شي.

د بیلګې په ډول، د نوي اختیاري بودجې له مجموعي څخه چې 544.487 میلیونه امریکایي ډالر کیږي، 76 سلنه یې د مهمو برخو لپاره لکه (د سرکونو جوړول او قیر کول، د اوبو او بریښنا بندونه، د پوهنتونونو او لوړو زده کړو د مؤسساتو جوړول، ښوونځي، مدرسې، لیلیې، کلینیکونه او روغتونونه او د کرنې او مخابراتو په برخه کې پانګونه) چې د لومړیتوب وړ دي، ځانګړې شوې ده،

که څه هم د پرمختیایي پروګرامونو د پلي کولو څخه ټول ولایتونه ګټه پورته کوي، خو بیا هم په مجموعي ډول 11 هغو ولایتونو ته چې لږ پرمختګ یې کړې دې 1.872 میلیارده افغاني (36 میلیونه امریکایي ډالر) او د کوچیانو لپاره 3 میلیونه امریکایي ډالر په پام کې نیول شوي دي، تر څو د ځانګړو لومړیتوب وړ پروژو د پلي کولو او تمویل په موخه له نوموړو بسپنو څخه ګټه پورته کړي تر څو د متوازنې ودې او پرمختګ زمینه برابره شي. په مجموعي ډول د 1392 کال په بودجه کې د منابعو تخصیص د افغانستان د پرمختګ د ملي استراتیژۍ، د لومړیتوب وړ ملي پروګرامونو او د مالي منابعو په پام کې نیولو سره تر سره شوې دې، له دې امله کولای شو د منابعو په تخصیص کې لومړې د هغه بر خو یادونه وکړو چې په دوامدار پرمختګ کې د پام وړ رول لوبوي.

لومړي جدول : د 1392 مالي کال د اصلي بودجې مجموعه

شمیره	سکتورونه	په (000) ډالر			د بودجې د مجموعي سلنه	د عادي بودجې سلنه	د پرمختیایي بودجې سلنه
		عادي	پرمختیایي	مجموعه			
1	امنیت	2,154,321	636,353	2,790,674	39.6%	57.1%	19.5%
3	د زیربناوو او طبیعي منابعو	62,167	1,039,094	1,101,261	15.6%	1.6%	31.8%
4	پوهنه	654,803	407,819	1,062,622	15.1%	17.4%	12.5%
5	کرنه او د کلو پراختیا	39,163	638,842	678,005	9.6%	1.0%	19.5%
2	د واکمنی، د قانون د حاکمیت او	213,200	85,241	298,441	4.2%	5.7%	2.6%
6	روغتیا	65,305	202,582	267,886	3.8%	1.7%	6.2%
8	اقتصادي اداره او د خصوصي	53,609	140,212	193,820	2.8%	1.4%	4.3%
7	ټولنیزمصؤنیت	44,530	23,272	67,802	1.0%	1.2%	0.7%
9	د احتیاطي کوډونو په ګډون	486,123	96,351	582,474	8.3%	12.9%	2.9%
	مجموعه	**3,773,221**	**3,269,766**	**7,042,986**	**100%**	**100%**	**100%**

د 1392 مالي کال د لیدلوري لنډیز:

د روان کال په اوږدو کې د مالي چارو او د عامه لګښتونو د اداري او نورو مربوطه قوانینو د تعدیل سره، 1392 کال د 1391 کال د مرغومې د میاشتې د لومړې نیټې څخه د 1392 کال د لیندۍ تر پای پورې مالي کال ټاکل شوې دې.

د مالیاتي او غیر مالیاتي عوایدو په ګډون 1392 مالي کال ټولې کورنې منابع د 135.117میلیاردو افغانیو په شاوخوا کې اټکل شوي دي (2.598 میلیارده امریکایي ډالر) او همداراز هغه عواید چې د عینک د مسو د کان څخه تر لاسه کیږي پکې شامل دي. د 1392 کال لپاره د مرستندویانو او نړیوالو مؤسساتو د مرستو عواید 215.506 میلیاردو افغانیو ته رسیږي (د 4.144 امریکایي ډالرو معادل)، د دې تر څنګ 2.935 میلیارده افغانۍ (چې 56.442 میلیونه امریکایي ډالر کیږي) بهرنۍ مرستې د پرمختیایي پروژو د تمویل په موخه د پرمختیایي بودجې لپاره په پام کې نیول شوې دي.

د 1392 مالي کال لپاره ټوله ملي بودجه د 366.235 میلیارده افغاني (د 7.043 میلیارده دالرو معادل) اټکل او پلان شوې ده. د 1392 مالي کال بودجه 43 سلنه د 1391 کال د پیل ملي بودجې نه چې 244.744 میلیارده افغاني د 9 میاشتو لپاره اټکل شوې وه زیاتوالي په ګوته کوي . خو د 12 میاشتو لپاره د اټکل شوې بودجې په پرتله 16 سلنه زیاتوالي په ګوته کوي.

د 1392 مالي کال عادي بودجه د 196.207 میلیارده افغانۍ (د 3.773 میلیاردو ډالرو معادل) اټکل شوې ده، چې د 1391 کال (9 میاشتې) د پیل د عادي بودجې په پرتله چې د 133.690 میلیاردو څخه زیاته وه، 46 سلنه زیاتوالي په ګوته کوي، چې په دې ډول 1392 کال د 3 میاشتو د عادی بودجې لګښتونه یې د 1391 د هغې په پرتله ډېر پورته بیولي دي.

د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانیو د ارزښت کموالي (په ځانګړې ډول د ډالرو په وړاندې) هم په عادي بودجه کې د افغانیو زیاتوالي په ګوته کوي، همداراز یو لړ هغه مالي فشارونه چې د عادي بودجې په زیاتوالي باندې یې اغیزه کړې ده، په راتلونکو صفحو کې په مفصل ډول بیان شوي دي.

د 1392 د مالي کال پرمختیایي بودجه د 170.028 میلیاردو افغانیو (د 3.270 میلیاردو ډالرو معادل) په اندازه پلان او وړاندوینه ېې شوې ده، چې د 1391 کال (9 میاشتې) د پیل د پرمختیایي بودجې په پرتله چې 111.053 میلیارده افغانۍ کیږي، نږدې 47 سلنه زیاتوالي موندلي دي. د نوموړي زیاتوالي عمده دلیل په لومړي پړاو کې د افغانستان د امنیت د مشترکې قوماندانۍ (CSTC-A) مرستې دي چې د امنیتي ځواکونو د سمبالولو (ملي اردو، ملي پولیس) لپاره یې تر سره کوي.

د 1392 مالي کال کورني عواید:

اوس مهال د عادي بودجې زیاته برخه (45 سلنه) د امنیتي لګښتونو لپاره د نړیوالې ټولنې لخوا تمویلیږي، پداسې حال کې چې 80 سلنه د پرمختیایي پروژو لګښت هم د مرستندویان او نړیوالو موسسو له لوري تمویل کیږي.

د نړیوالو ځواکونو څخه کورني ځواکونو ته د امنیت د مسؤولیت د لیږد د بشپړیدو سره به تر1393 (2014) پورې په عادي بودجه باندې مالي فشارونه لا زیات شي. ځکه چې له یوې خوا به هغه امنیتي لګښتونه چې اوسمهال په مستقیم ډول د بهرنیو مرستندویانو له خوا تر سره کیږي، دولت ته سپارل کیږي او له بلې خوا د کار د نه موجودیت په صورت کې د هغوې کورني کارکوونکي بې برخه لیکه پاتې کیږي، د اقتصادي راکړو ورکړو په برخه کې هم ښایي کموالي رامنځته شي چې په دې صورت کې د دولت په کورنیو عوایدو او د لګښتونو په کموالي باندې منفي اغیزه کوي.



د امنیتي تاسیساتو د جوړولو، ښوونځیو، روغتونونو او کلینیکونو، د دولتي ادارو ودانیو، سرکونو او هوایي ډګرونو د حفظ او مراقبت لګښتونه هر کال لوړیږي او په عادي بودجه باندې اغیزه کوي.

څرنګه چې پورته ذکر شول، د نړیوالو امنیتي ځواکونو د وتلو سره سم د اقتصادي فعالیتونو په برخه کې د منفي اغیزې وړاندوینه شوې ده، او د وروستیو وړاندوینو په پام کې نیولو سره لیدل کیږي چې په منځمهاله او اوږدمهاله موده کې نوموړې اغیزې د کورنیو عوایدو په کچه زیات محسوسیږي.

د احتمالي مالي فشارونو په پام کې نیولو سره چې په منځمهاله او اوږدمهاله کې په مخه کې دي، دولت د مالي ثبات په موخه د عوایدو د کچې لوړوالي د خپلو ژمنو او مالي پالیسو ته د فعالیتونو په سر کې ځای ورکړې دی.

د دې تر څنګ د عوایدو د را ټولولو لوړوالي د اعتبار د تمدید د اسانتیاوو (ECF) د پروګرام له شرایطو څخه دي چې د پیسو د نړیوال صندوق سره پرې هوکړه شوې ده.

له همدې امله پورته ذکر شوو موخو ته د رسیدو او د عادي بودجې د تمویل د تشې (لومړي ګراف) د ډکولو لپاره دولت په پام کې لري تر څو د مالي چارو په برخه کې یو لړ پلان شوي اصلاحات پلي کړي.

خو دولت د عوایدو د راټولولو په موخه او همداراز د مالیاتي بنسټونو د پراختیا لپاره خپلو تدابیرو ته دوام ورکړي دې چې نوموړي تدابیر په دې ډول دي: د مالیاتو د پذیرش زیاتوالي ، په ولایتونو او مستوفیتونو کې د پلټنې زیاتوالي، د اسیکوډا د نوي سیستم معرفي کول، او د ګمرکونو په مختلفو سرحدي پولو کې د بندرونو د مدیریت د سیستم پلي کول. د دې تر څنګ، نوي مالیاتي مقررات چې په دې ورستیو کې د دولت لخوا د کورنیو عوایدو د کچې د زیاتوالي په موخه تر لاس لاندې نیول شوي دي لکه: د نفتي موادو فیس، د اوسپنې د لارې مالیه، او د سګرټو او تمباکو د تعرفې زیاتوالي.

د دولت لپاره په منځمهاله او اوږدمهاله موده کې د مصرفي اړتیاوو د پوره کولو په موخه د بشپړه عوایدو د تر لاسه کولو لپاره په نوموړو تدابیرو باندې اتکاء بسنه نه کوي، دولت باید د پالیسۍ سره سم د 1393 (2014) کال پورې د ارزښت د زیاتوالي مالیات (Value Added Tax) معرفي کړي، د عوایدو د راټولولو د ادارې ظرفیت لوړ او د عوایدو د راټولولو اغیزمنتیا لا پسې پیاوړې کړي.

د کانونو عواید هم د مهمو عایداتي سرچینو څخه شمیرل کیږي چې په 1392 مالي کال کې د عینک د مسو د کان 50 میلیونه امریکایي ډالر د پرمختیایي پروژو د تمویل لپاره په پام کې نیول شوي دي، خو د نوموړو زیرمو د استخراج او ګټه اخیستنې په صورت کې طمه کیږي چې په لنډ مهاله او اوږد مهاله موده کې په عوایدو کې د پام وړ زیاتوالي رامنځته شي.

په دې ډول د 1392 مالي کال عواید 122.527 میلیارده افغاني (2.356 میلیارد ډالر) اټکل شوي دي چې د کورنیو نا خالصه تولیداتو د 10 سلنې څخه زیاته برخه جوړوي. دویم جدول په 1391 او 1392 کلونو کې د بابونو پر بنسټ د کورنیو تولیداتو د وړاندوینې تفصیل وړاندې کوي:

دویم جدول: د باب پر بنسټ د 1392 مالي کال کورني عواید					
اقلام	1391 (9 میاشتې)	1391 د 12 میاشتو وړاندوینه)	1392	د 1392 سلنه	د 1391-1392 د سلنې توپیر
	میلیون افغانی				
مالیاتي عواید (ټکس)	**72,100.05**	**96,133.40**	**92,001.00**	**75.1%**	**-4.3%**
په عایداتو مالیات، په ګټه او د پانګې په تر لاسه کولو مفاد	21,082.50	28,110.00	32,800.00	26.8%	16.7%
د راکړې ورکړې او نړیوالي سوداګري مالیات	30,753.60	41,004.80	27,560.00	22.5%	-32.8%
د توکو او خدمتونو کورني مالیه	17,029.20	22,705.60	26,722.00	21.8%	17.7%
ټول مالیات	3,234.75	4,313.00	4,919.00	4.0%	14.1%
غیر مالیاتي عایدات	**15,809.85**	20,079.80	**30,526.00**	**24.9%**	52.0%
د کورنیو عوایدو مجموعه	**87,909.90**	**116,213.20**	**122,527.00**	**100%**	**5.4%**

څرنګه چې لیدل کیږي، د 1392 کال د عوایدو وړاندوینه د 1391 کال په پرتله 33 سلنه زیاتوالي په ګوته کوي چې د 9 میاشتو لپاره اټکل شوې وه خو د 12 میاشتو وړاندوینې پر پرتله 1 سلنه زیاتوالی په ګوته کوی.

اوسمهال د عوایدو ډیره برخه د هغه مالیاتو له مدرکه تر لاسه کیږي چې د نړیوالي سوداګرۍ ګمرکي حقوقو، په خرڅلاو مالیات، په عایداتو باندې مالیات او لږه برخه یې غیر مالیاتي عواید تشکیلوي. په مفاد، جایداد او پانګې باندې مالیات چې د ټاکل شوو مالیاتو څخه تشکیل شوي دي لکه: د سوداګرۍ، د کارکونکو تنخواګانې او د شرکتونو مالیات چې اټکل کیږي چې په 1392 کال کې به د 16% په شاوخوا کې زیاتوالي ومومي او د 1391 مالي کال په پرتله چې 28.1 میلیارده افغانۍ ؤ، د 1392 مالي کال مالیات به 32 میلیارده افغانیو ته لوړ شي، په داسې حال کې چې وړاندوینه کیږي چې د بهرنۍ سوداګرۍ، راکړه ورکړه او ګمرکي حقونو له درکه مالیات به په 1392 کال کې ټیټوالي ومومي. دغه راز کموالي د دولت د یو لړ مشخصو پالیسیو له امله لکه د تیرې نیټې د نقلیه وسایطو او عراده جاتو د واردولو مخنیوي (د لس کاله پخوا مادل)، د یو شمیر ځانګړو صنعتي توکو د تعرفې د بیې ټیټوالي، د بهرنیو ځواکونو د وتلو له امله د وارداتي توکو کموالي او داسې نورې پالیسیو له امله دی. مګر طمه کیږي چې په

1392 کال کې په توکو او خدمتونو باندې کورنۍ مالیه په چټکتیا سره وده وکړې او 17 % زیاتوالې و مومي، او د 1394 کال څخه وروسته، طمه کیږي چې د نوموړې کټګورۍ له مدرکه عواید به د ارزښت په زیاتوالي باندې د مالیاتو د پلان په معرفي کولو سره چې په انتفاعي معاملاتو باندې د مالیاتو ځای به ونیسی، لا زیاتوالې و مومي.

له دې امله چې اوسمهال د وارداتو زیاتوالی د کورنیو عوایدو له مهمو محرکینو له ډلې څخه ګڼل کیږي، وړاندوینه کیږي چې په 1392 کال کې به 1.2% کموالې ومومي خو په 1393 کال کې به بیرته 6.3% ته پورته شي.

د 1392 مالي کال د ملي بودجې د تمویل لپاره بهرنۍ سرچینې:

څرنګه چې په پورته برخو کې یادونه وشوه چې د ملي بودجې د تمویل سرچینې د کورنیو منابعو (کورني عواد او د عینک د مسو د کان عواید) او بهرنیو سرچینو (د مرستندویانو او نړیوالو سازمانونو وړیا مرستې او پورونو) څخه عبارت دي.

د دې په پرتله چې عادي لګښتونه په ځانګړي ډول د امنیت په سکتور کې ډیر لوړ دي او د امنیتي لګښتونو ډیرې برخه د بهرنیو مرستو لخوا تمویلیږي، پدې ډول د عادي بودجې په تمویل کې د وړیا مرستو ونډه اوس هم ډیره لوړه ده او په 1392 کال کې د 45 ٪ په شاوخوا کې تشکیلوي. همداراز د پرمختیایي بودجې په تمویل کې د بهرنیو منابعو ونډه (وړیا مرستې او پورونه) 77.3 ٪ تشکیلوي او همداراز 16.4 ٪ کورنۍ منابع چې کورني عواید او د عینک د مسو د کان عواید تشکیلوي د اختیاري پروژو د تمویل لپاره په پام کې نیول شوې دي او پاتې 6 ٪ پرمختیایی بودجه د منابعو (د کسر په شمول) او سرچینو پرته پاتې ده.

په 1392 کال کې د افغانستان د عادي بودجې لپاره ټولې وړیا مرستې چې د افغانستان د بیارغونې د امانتی صندوق (ARTF)، د قانون او نظم امانتی صندوق (LOTFA)، د افغانستان د امنیت د ګډې قومندانې (CSTC-A) او د فرانسې، ډنمارک او برتانیا هیوادونو لخوا د ولایتي حکومتدارۍ او په ولسوالیو کې د خدمتونو د تر سره کولو په موخه برابریږي، 87.004 میلیارده افغانیو (1.673میلیارد ډالر) ته رسیږي. د 1392 کال د پرمختیایي بودجې د تمویل لپاره د 128.502 میلیارده افغانیو په اندازه چې 2.471 میلیارده ډالر کیږي، وړیا مرسته په پام کې نیول شوې ده چې په دې کې (1) 794.338 میلیونه امریکایي ډالر د 1391 کال انتقالي غیر اختیاري بسپنې دي؛ (2) 1.436میلیونه ډالر نوې غیر اختیاري بسپنې؛ او (3) 240.660 میلیونه امریکایي ډالر اختیاري وجوه شامل دي. برسیره پردې، 56.442 میلیونه امریکایي ډالر چې د پور په ډول په تیرو کلونو کې ژمنې شوې دي، د پرمختیایي پروژو د غیر اختیاري وجوه په برخه کې شاملې دي. په دې برخه کې لا زیات تفصیل د تمویل په جدول کې په راتلونکو صفحو کې بیانیږي.

د 1392 مالي کال عادي بودجه:

په 1392 مالي کال کې عادي بودجه د 196.207 میلیارده افغاني چې 3.773 میلیارده ډالره کیږي اټکل شوې ده چې د هیواد د کورنیو ناخالصه تولیداتو په تناسب 17 سلنه جوړوي. د 1392 مالي کال بودجې د 1391 مالي کال د پیل په پرتله چې د نهو میاشتو لپاره جوړه شوې ده، 45 ٪ زیاتوالې موندلې دې.

د 1392 مالي کال په عادي بودجه کې د دولت د کار کوونکو د معاشونو ونډه 141.004میلیارده افغانیو ته رسیږي چې 72 ٪ کیږي، په 1391 مالي کال کې د معاشونو ونډه د عادي بودجې 76 سلنه جوړه کړې وه.

د دولت د کارکوونکو معاشونو د 1392 کال په بودجه کې 1391 مالی کال د دولسو میاشتو د وړاندوینې په پرتله 2.6 سلنه زیات دې، د دې کم زیاتوالي لامل په 1392 کال کې د ملي پولیسو او ملي اردو د تشکیل د کچې ثابت پاتې کیدل دي.

خو د 22 کوډ د لګښتونو ونډه د عادي بودجې14 سلنه جوړوي چې د 1391 کال د دولسو میاشتو د اټکل شوي بودجې په پرتله 20 ٪ کموالې په ګوته کوي. 25 کوډ د عادي بودجې یو سلنه برخه جوړوي خو د نوموړې کوډ بودجه د 1391 کال د دولسو میاشتو د بودجې په پرتله هم 74 ٪ کموالې په ګوته کوي.

په 22 او 25 کوډونو کې د کموالي دلیل پرمختیایي بودجې ته د افغانستان د امنیت د انتقال د ګډې قومندانې (CSTC-A) د 605 میلیونو امریکایي ډالرو انتقال دې چې د ملي پولیسو او ملي اردو ځواکونو د سمبالولو په موخه تر سره کیږي.

اما یوه اندازه نور لګښتونه لکه: د ښوونځیو، په مرکز او ولایتونو کې د روغتونونو د حفظ او مراقبت، او د دولتي ودانیو او سرکونو د حفظ او مراقبت لګښتونه چې نوی محاسبه شوی، 22 کوډ اغیزمن کړي دي.

د احتیاط په ګډون متفرقه کوډونه د عادي بودجې 13 ٪ برخه تشکیلوي چې ډیرې توکي یې د ملکي او نظامي کارکونکو د تقاعد حقوق، د شهیدانو او معلولینو حقوق، د متقاعدینو د تیرو کلونو نا تادیه شوي حقوق، رتب او معاش، د مرکزي بانک د پانګې د کموالي د تاوان وجوه، په ولسوالیو کې د خدمتونو د تر سره کولو لګښتونه چې د مرستندویانو لخوا تمویل کیږي، او د افغان آریانا د هوایي شرکت بسپنې. خو په جلا ډول د نوموړو لګښتونو محاسبه د عادي بودجې د سپما لپاره تر سره کیږي.

د عادي بودجې د زیاتوالي مهم لاملونه په لومړي قدم کې د 1392 مالي کال د مودې زیاتوالي دي چې په 1391 کال کې (نهه میاشتې) ؤ، د دې تر څنګ یو لړ هغه توکي چې د عادي بودجې په زیاتوالي یې اغیزه کړې ده، په لاندې ډول دي:

- د نظامي متقاعدینو د تیرو کلونو پاتې حقوق
- د پوهنې د وزارت په تشکیل کې د 11,000 تنو د لګښتونو زیاتوالي
- د لوړو زده کړو د وزارت په تشکیل کې د 1,300 تنو د لګښتونو زیاتوالي چې 700 تنه یې د پوهنتونونو استاذان د لوړو زده کړو د مؤسسو ښوونکي تشکیلوي
- د ملي امنیت په تشکیل کې د 7,000 تنو څخه د زیاتو کسانو د لګښتونو زیاتوالي چې د یادې ادارې تشکیل په 1391 کال کې زیاتوالي موندلې ؤ
- د مرکز د هغه ښوونځیو او روغتونونو د حفظ او مراقبت اضافي لګښتونه چې دا مهال په 1392 مالي کال کې محاسبه او په بودجه کې شامل شوي دي
- په ادارو کې د رتبو او معاشونو د پروګرام د پلي کولو ادامه
- د ولایتي ادارو او ولسوالیو د پیاوړتیا لګښتونه
- د سفارتونو د کارکونکو د معاشونو د نورم زیاتوالي
- په وړکتونونو کې د کوچینیانو د اعاشې په نورم کې زیاتوالي (له 30 تر 40 افغانی) او روزنتون (له 75 تر 80 افغانی)
- د لیلیې، زندانونو او نظامي پرسونلو د اعاشې د نورم زیاتوالي له 115 نه 125 افغانیو ته.
- او د بهرنیو پورونو د بیرته ورکړې د قسطونو زیاتوالي چې د بیرته ورکړې نیتې پې پوره شوې دی.

دریم جدول: 3: د 1392 کال په عادی بودجه کې لس بودجوي څانګې چې د نورو زیاته ونډه لري

شمیره	اداري	1392 (000) افغانی	په مجموعي عادي بودجې کې ونډه
1	د ملي دفاع وزارت	57,107,538.6	29.5%
2	د کورنیو چارو وزارت	41,601,272.6	21.5%
3	د پوهنې وزارت	29,591,972.8	15.3%
4	د ملي امنیت لوې ریاست	9,792,726.0	5.1%
5	د عامې روغتیا وزارت	3,395,851.6	1.6%
6	د لوړو زده کړو وزارت	3,190,786.7	1.8%
7	د بهرنیو چارو وزارت	2,650,000.0	1.4%
8	د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه	2,468,351.0	1.3%
9	د ټولګټو وزارت	533,650.0	0.3%
10	د مالیې وزارت	1,836,000.0	0.9%
د 10 ادارو مجموعه		**152,168,149.2**	**78.5%**

هغه اداري چې په عادي بودجه کې تر ټولو زیاته ونډه لري په پورته جدول کې ښودل شوي دي (دریم جدول) او څرنګه چې پورته ذکر شول، د ملي دفاع، کورنیو چارو او د پوهنې وزارتونه په 1392 کال کې تر ټولو زیاته عادي بودجه لري.

د 1392 مالي کال د عادي بودجې د زیاتوالي لاملونه پورته ذکر شول، خو په مجموعي ډول د معاشونو، رتبو او معاشونو د پلي کولو د پروګرام دوام او د هغه کارکونکو د شمیر زیاتوالي چې د سوپر سکیل څخه مستفید کیږي، د 21 کوډ بودجوي واحدونو بودجه زیاته کړې ده.

د 1392 مالي کال د پرمختيايي بودجې لنډيز:

د 1392 کال پرمختيايي بودجه 170.028 ميلياردې افغاني (3.270 ميلياردې ډالره) اټکل او پلان شوې ده چې د کورنيو نا خالصه توليداتو 15 ٪ جوړوي. د 1392 مالي کال پرمختيايي بودجه د 1391 مالي کال د پيل په پرتله چې 2.221 ميلياردې ډالر اټکل شوې وه، د 47 ٪ څخه زيات زياتوالي موندلې دې. د دغه زياتوالي مهم لاملونه د کورنيو چارو او د ملي دفاع د وزارتونو سره د افغانستان د امنيت د انتقا ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) 605 ميليونه امريکايي ډالر مرستې دي چې د عادي بودجې څخه پرمختيايي بودجې ته انتقال شوي دي. د دې تر څنګ په نوو اختياري پروژو کې د 145 ميليونه امريکايي ډالرو زياتوالي هم د زياتوالي د لاملونو څخه دي.

د 1391 او 1392 مالي کلونو د پرمختيايي بودجې او نوي او انتقالي بسپنو لنډيز په (څلورم جدول) کې بيان شوې دې:

څلورم جدول: د اختياري او غير اختياري بودجې پر بنسټ د 1391 او 1392 مالي کلونو پرمختيايي بودجه

مالي کال	پرمختيايي بودجه	ارقام په 000 امريکايي ډالرو			سلنه
		انتقالي	نوي	مجموعی بودجه (انتقالي+نوی)	
د 1391 مالي کال پيل	اختياري بودجه	301,567.68	399,383.85	700,951.53	31.6%
	غير اختياري بودجه	804,649.61	715,470.05	1,520,119.66	68.4%
د 1391 مجموعه		**1,106,217.29**	**1,114,853.90**	**2,221,071.19**	
1392	اختياري بودجه	438,312.18	544,487.05	982,799.23	30.1%
	غير اختياري بودجه	837,861.35	1,449,105.36	2,286,966.71	69.9%
د 1392 مجموعه		**1,276,173.53**	**1,993,592.41**	**3,269,765.94**	
د 1391 کال د پيل د بودجې او د 1392 تر منځ توپير		169,956.24	878,738.51	1,048,694.76	
د پورته کلونو تر منځ د سلنې له مخې توپير		15.4%	78.8%	47.2%	

انتقالي بودجه د لګښت د راپور پر بنسټ د 1391 مالي کال د تلې د مياشتې د 15 نيټې پورې اټکل شوې ده، مګر د 1391 مالي کال د قطعيې د حسابونو د نهايي کيدو څخه وروسته بيا ځلې چمتو کيږي.

د انتقالي بودجې د زياتوالي لامل د وخت محدوديت، د مالي کال لنډوالي او د بودجې د تصويب په برخه کې ځنډ دې، چې د پلان سره سم د پرمختيايي پروژو پلي کول او لګښتونه د ځنډ سره مخامخ کيږي، په دې ډول د انتقالي پروژو بودجه د 1391 مالي کال د پيل د انتقالي اټکلي بودجې څخه 15 ٪ زياته انتقال شوې ده.

په نوي غير اختياري بودجه هم د 1391 مالي کال د پيل په پرتله د 100 ٪ څخه ډير زياتوالي رامنځته شوې دې چې زياته برخه يې د کورنيو چارو او د ملي دفاع د

پينځم جدول:10 بودجوي واحدونه چې د 1392 کال په نوی غير اختياري بودجه کې زياته ونډه لري

شماره	وزارتونه	1392	
		(000) امريکايي ډالر	د نوي غير اختياري بودجې سلنه
1	د ملي دفاع وزارت	413,292.7	28.5%
2	د کلو د بيا رغونې او پراختيا وزارت	235,760.0	16.3%
3	د کورنيو چارو وزارت	192,514.3	13.3%
4	د پوهنې وزارت	167,026.0	11.5%
5	د ټولګټو وزارت	139,300.0	9.6%
6	د عامې روغتيا وزارت	88,438.0	6.1%
7	د مالیې وزارت	47,060.0	3.2%
8	د کرنې او مالداري وزارت	44,640.0	3.1%
9	د اوبو او بريښنا وزارت	41,500.0	2.9%
10	د کانونو وزارت	13,170.0	0.9%
د لسو وزارتونو مجموعه		**1,382,701.0**	**95.4%**

وزارتونو سره د افغانستان د امنیت انتقال د ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) مرستې تشکیلوي چې د امنیتي سکتور سمبالولو او تجهیز په موخه تر سره شوي دي. همداراز د غیر اختیاري مرستو زیاتوالي د مرستو د جذب او د ملي بودجې له لارې د نوموړو مرستو لګښت په ګوته کوي چې د نړیوالي ټولنې هغه ژمنې په پام کې نیسي چې د کابل، دویم بن او د ټوکیو په کنفرانس کې یې تر سره کړې دي. په ملي بودجه کې د زیاتو مرستو جذب او د ملي بودجې له لارې د مرستو مصرفول زیاته اغیزمنتیا لري.



ځرنګه چې د (پینځم جدول) څخه معلومیږي، د 1392 کال د پرمختیایي بودجې 30 ٪ اختیاري بودجه او پاتې 70 ٪ یې غیر اختیاري بودجه جوړوي. د نوې غیر اختیاري بودجې 90 په سلو کې د لسو وزارتونو"5 جدول " لپاره ځانګړې شوې ده، چې د هغې جملې څخه د ملي دفاع د وزارت وندې 28.5 ٪، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت 16.5٪، د کورنیو چارو د وزارت وندې 13.3٪ ، د پوهنې د وزارت وندې 11.5 ٪ او په همدې ډول شپږ نور وزارتونه په نوې غیر اختیاري بودجه کې تر ټولو زیاته وندې لري.

مګر د دولت پالیسۍ ته په پاملرنې سره، په نوې اختیاري بودجه کې د 1391 مالي کال په پرتله د 37 ٪ زیاتوالي رامنځته شوې دې چې له هغه څخه د زیربنایي، پوهنې، لوړو زده کړو او کرنې او مالداری د پروژو په تمویل کې ګټه اخیستل کیږي.

دوهم ګراف د مهمو مؤلدو زیربنایي پروژو د تمویل لپاره د اختیاري سرچینو وندې په ګوته کوي چې د هغوی تمویل او تداوم د مرستندویانو د لپاره ډیر په زړه پورې نه دی. د بیلګې په ډول: د اوبو د لویو او متوسطو بندونو جوړول، د بریښنا تولید، د سرکونو جوړول او قیر کول، لوړې زده کړې، پوهنه، کرنه، روغتیا او د پرمختیایي پروګرامونو د پلي کولو لپاره د ادارو د کاري ظرفیتونو لوړوالي تر څو په راتلونکي کې اغیزمن ثابت شي.

ځرنګه چې د سرکونو جوړول او قیر کول د مهمو لومړیتوبونو څخه ګڼل کیږي، او په اقتصادي پرمختګ کې

شپږم جدول: لس بودجوي واحدونه چې د 1392 کال په اختیاري بودجه کې زیاته وندې لري

شماره	وزارتونه	1392	
		(000) امریکایي ډالر	په نوې اختیاري بودجې کې سلنه
1	د ټولګټو وزارت	111,700.0	20.5%
2	د اوبو او بریښنا وزارت	61,500.0	11.3%
3	د کرنې او مالداری وزارت	48,000.0	8.8%
4	د لوړو زده کړو وزارت	36,500.0	6.7%
5	د عامې روغتیا وزارت	24,013.0	4.4%
6	د پوهنې وزارت	20,057.0	3.7%
7	د کلو دبیا رغونې او پراختیا وزارت	16,976.5	3.1%
8	د ترانسپورت وزارت	16,620.0	3.1%
9	د مخابراتو وزارت	15,500.0	2.8%
10	د ښار جوړولو چارو وزارت	14,000.0	2.6%
	د لسو وزارتونو مجموعه	**350,866.5**	**64.4%**

هم د پام وړ رول لوبوي، له همدې امله د ټولې 544.487 میلیونه ډالرو نوی اختیاري بودجې څخه د 21 ٪ په شاوخوا کې (118.7 میلیونه امریکایي ډالر) یواځې د سرکونو د جوړولو او قیر کولو په موخه د ټولګټو وزارت ته ځانګړې شوي دي چې په هغه کې د کابل د ښاروالۍ 5 میلیونه امریکایي ډالر هم شامل دي.

دویم دا چې تقریباً 11 ٪ نور یې (61.5 میلیونه ډالر) د اوبو د تنظیم لپاره د کرنې او بریښنا د تولید د پیاوړتیا په موخه په پام کې نیول شوي ده چې یاد سکتورونه په اقتصادي پرمختګ کې د پام وړ رول لوبوي او په اولویتونو کې شمیرل کیږي. کرهنه چې په هیواد کې د اقتصادي پرمختیا یو بل عامل دی تقریباً 9 سلنه (48 میلیونه دالره) د نو اختیاری بودجې دغې برخې ته اختصاص ورکړل شوي دي سره له دې 20 میلیونه دالر اختیاری بودجه د زراعتی د برخې د پراختیا او تقویې په موخه د کرنې د پراختیا بانک ته د احتیاطي وجوه لاندی په پام کې نیول شوي دي، پدیشان ټولې تقریباً 12 سلنه اختیاری نوې بودجه دغې برخې ته په پام کې نیول شوې ده

د بشري منابعو د تخصص وده هم له مهمو او لومړیتوب وړ برخو څخه ګڼل کیږي چې په دې برخه کې د لوړو زده کړو د وزارت لپاره د 8 ٪ (46.5 میلیونه ډالر) په شاوخوا کې نوې اختیاري بودجه ځانګړې شوې ده، چې د پرمختیایي بودجې په احتیاطي کوډ کې هغه لس میلیونه امریکایي ډالر هم رانغاړي چې د تحصیلي بورسونو د تمویل لپاره ځانګړې شوې ده. په همدې ډول د نوې اختیاري بودجې څخه د لومړیتوب وړ ټولو برخو ته د مالي امکاناتو په تناسب بودجه په پام کې نیول شوې ده (شپږم جدول).

همداراز د 1392 مالي کال په ټوله پرمختیایي بودجه کې (اووم جدول) هغه بودجوي واحدونه چې تر ټولو لویه ونډه یې د ځان لپاره ځانګړې کړې ده، عبارت دي له: ټولګټو، د کلو د بیا رغونې او پراختیا، دفاع، پوهنې، اوبه او بریښنا، عامې روغتیا او څو نور وزارتونه.

اووم جدول: لس هغه بودجوي واحدونه چې د 1392 کال په پرمختیایي بودجه کې زیاته ونډه لري

شماره	وزارتونه	ارقام په 000 امریکایي ډالرو			د پرمختیایي بودجې %
		انتقالي	نوی	مجموعه	
1	د ټولګټو وزارت	246,122.88	251,000.00	497,122.88	15.2%
2	د کلو پراختیا	218,421.74	252,736.49	471,158.23	14.4%
3	دفاع	438.63	413,292.69	413,731.32	12.7%
4	پوهنه	110,596.43	187,083.00	297,679.43	9.1%
5	اوبه او بریښنا	174,175.85	103,000.00	277,175.85	8.5%
6	عامې روغتیا	90,130.65	112,451.00	202,581.65	6.2%
7	کورنیو چارو	7,145.02	196,514.31	203,659.33	6.2%
8	کرنه	56,239.58	92,640.00	148,879.58	4.6%
9	مالیه	40,345.55	60,990.00	101,335.55	3.1%
10	لوړی زده کړی	37,128.40	45,800.00	82,928.40	2.5%
د 10 وزارتونو مجموعه		**980,744.73**	**1,715,507.49**	**2,696,252.22**	**82.5%**
11	احتیاطي کوډونه	10,659.08	85,692.00	96,351.08	2.9%

د 1392 مالي کال د تشکیل لنډیز:

ټول اداري تشکیل په 1392 کال کې 837,253 تنو ته رسیږي چې په 1391 مالي کال کې 809,786 تنو ته رسیده، چې په دې صورت کې د 1391 کال په پرتله 27,467تنه زیاتوالي (3.4 ٪) په ګوته کوي.

اتم جدول: لس هغه بودجوي واحدونه چې د 1392 کال په تشکيل کې زياته ونډه لري					
شمیره	اداري	د 1391 تشکيل		د 1392 کال تشکيل	
		1391	ونډه د سلني له مخې	1392	ونډه د سلني له مخې
1	د پوهنې وزارت	247,996	30.6%	258,996	31.1%
2	د کورنيو چارو وزارت	202,696	25.0%	205,854	24.7%
3	د ملي دفاع وزارت	204,154	25.2%	202,886	24.4%
4	د ملي امنيت لوی رياست	27,831	3.4%	40,741	4.9%
5	د عامې روغتيا وزارت	18,395	2.3%	18,395	2.2%
6	د لوړو زده کړو وزارت	9,527	1.2%	10,827	1.3%
7	د کرنې وزارت	9,281	1.1%	9,281	1.1%
8	د مالیې وزارت	8,550	1.1%	8,565	1.0%
9	د کار او تولنيزو چارو وزارت	7,233	0.9%	7,223	0.9%
10	د سيمه ايزو ارګانونو اداره	7,214	0.9%	7,241	0.9%
	مجموعه	**742,877**	91.7%	**770,009**	92.5%
11	نوری اداری	66,909	8.3%	67,244	8.1%
کلي مجموعه		**809,786**	**100%**	**837,253**	**100.6%**

د تيرو څو کلونو په اوږدو کې د عادي بودجې د زياتوالي د لاملونو څخه يو د تشکيل زياتوالي ؤ، په دې ډول په عادي بودجه کې د داسې زياتوالي د مخنيوي په موخه په 1392 مالي کال کې په استثنايي ډول د څو محدودو بودجوي واحدونو په تشکيلاتو کې زياتوالي رامنځته شوې دې (د ملي امنيت د لوې رياست په تشکيل کې، د پوهنې د وزارت په تشکيل کې، د لوړو زده کړو د وزارت په تشکيل کې).

د ښوونې او روزنې وده او پراختيا د دولت د لومړيتوب وړ د پروګرامونو څخه دې، له دې امله د مکاتبو د ښوونکو او کارمندانو د تشکيل زياتوالي د پوهنې د سکتور د ودې لامل کيږي. له همدې امله په منځمهاله موده کې د پوهنې د وزارت تشکيل د زياتوالي په حال کې دې او د 1392 مالي کال په بودجه کې هم د 10,000 ښوونکو او 1,000 اداري پرسونل چې په مجموعي ډول 11,000 تنه کيږي، د وزارت په تشکيل کې زياتوالي رامنځته شوي دي.

په همدې ډول د مکاتبو د مخ پر زياتيدو فارغينو په پرتله چې په ورته وخت کې د لوړو زده کړو په موسساتو کې د محصلينو شمير د زياتوالي په حال کې دې، د 1392 مالي کال په بودجه کې د لوړو زده کړو د وزارت په مجموعي تشکيل کې 1,300 تنه زيات شوي دي چې له دې ډلې څخه 700 د پوهنتونونو او تحصيلي مؤسساتو استاذان تشکيلوي.

د ملي امنيت د لوې رياست په تشکيل کې د 12000 څخه زيات تزييد رامنځته شوې دې خو د ملي دفاع په وزارت کې چې د 1,268 تنو تنقيص ليدل کيږي، هغه تنقيص نه بلکه په همدې شمير پرسونل چې په اردو کې شامل نه ؤ خو په ريزفي شکل يا د روزنيز پروګرام لاندې ؤ چې د 1391 کال په بودجه کې په محاسبه کې شامل نه ؤ، مګر په تشکيل کې محاسبه شوي ؤ چې په 1392 کال کې د تشکيل له محاسبې څخه حذف شوي دي.

هغه زياتوالي چې د کورنيو چارو د وزارت په تشکيل کې ليدل کيږي، د برجسته کسانو د امنيتي چارو د معينيت له پلوه دې چې د 1391 مالي کال په اوږدو کې بې زياتوالي موندلې دې او د سيستيکا لخوا تمويل کيده او د 1392 مالي کال په بودجه کې شامل شوي دي.

د 1391 مالي کال پلان شوي مهمي لاسته راوړني:

د 1391 مالی کال پلان شوی او عمده لاسته راوړنی د بودجی په اجرایوی واحدونو کی چی د 1392 کال د بودجی د مسودی د جوړیدو پوری چی د مالیی وزارت په لاس کی ورکړل شوی، ذکر شوی دی اما د بودجوی واحدونو پوره لاسته راوړنی د مالی کال د ختمیدو څخه وروسته واضح کیږی.

د امنیت سکتور:

د امنیت سکتور یو د هغو مهمو سکتورونو له ډلي څخه دي چی د عادي بودجې تر ټولو زیاته برخه یې د ځان لپاره ځانګړي کړي ده چي په 1391 کال کي یې د عادي بودجې 57 سلنه د ځان لپاره ځانګړي کړي ده. د نوموړو سرچینو زیاته برخه د اردو، پولیسو او ملي امنیت لپاره ځانګړي شوي ده چي د امنیتي پرسونلو د معاشونو او امتیازونو د ترسره کولو او نورو امنیتي لوازمو د برابرولو لپاره چي په هیواد کي د امنیت د ټینګښت عامه نظم او قانون پلي کول او د سرحدونو د ساتلو لپاره ځانګړي شوي ده. د 1391 کال په اوږدو کي د نوموړي سکتور لاسته راوړني په لاندي ډول بیان شوي دي:

- دامنیتی دندودلیږدد بهیر دریم پړاوبشپړول او د کورنیو امنیتي ځواکونو په واسطه د ډیرې ولایتونو د امنیتی چاری په لاس کي نیول؛
- د ملي اردو د ځواکونو د شمیر په 1390 کال کي له 192000 څخه تر 195000تنو پوری لوړیدل؛
- د ملي پولیسو د پرسونلو د شمیر په 1390 کي له 151000څخه تر 157000 پوری لوړیدل؛
- د نړیوالي ټولني په مرسته د دولت د سولي، ثبات او استقرار په موخه د امنیتي اړتیاوو په پام کي نیولو سره د ملي پولیسو د ځواکونو د تشکیلاتي ریفورم پلي کول؛
- د 15520 جنایي پیښو کشف او د 15449 شکمنو کسانو نیول؛
- د 212 خپلواکو عملیاتو تر سره کول ،په مرکز او ولایتونو کي د 788 ګډو عملیاتو تر سره کول، د جرمونو د ترسره کولومخنیوي او د وسله والو مخالفینو ټکول؛
- او ډیرې نوری داسې پیښی چي دبودجی په سند کی په مفصله توګه تربحث لاندی نشی نیول کیدای.

د حکومتداري او قانون د حاکمیت سکتور:

د نوموړي سکتور د بودجي زیاته برخه عادي بودجه جوړوی چي د معاشونو د اجرا او نورو ورځنیو لګښتونو لپاره لګول کیږي. په 1391 مالي کال کي د نوموړي سکتور مجموعي بودجی د ټولي بودجي پنځه سلنه جوړوله . د 1391 کال په اوږدو کي د نوموړي سکتور لاسته راوړني په لاندي ډول بیان شوي دي:

- په لسو دولتي ادارو کي د رتبو او معاشونو د نوي سیستم د بهیرپیل، سربیره دهغو ادارو چی واردمخه ریفورم شویدی.
- د قوانینو، مقرراتو، تقنیني فرمانونو او هغه بودجه چي د دولت له خوا ملی شورا ته وړاندی شوي ده او په خپل وخت سره د ژور بحث او غور څخه وروسته په مجلسونو کي تصویب شوي ده؛
- د چارواکود شتمنیو ثبت، څیړل او نشرول چي تر دی دمه د شتمنیو د ثبت 3,000 فورمي، 93 فورمي نشر او څیړل شوي، د شتمنیو اته فورمي د تدقیق لاندي دي اود شتمنیو 60 فورمي د تدقیق او څیړنی ترپلان لاندي دي.
- د ستري محمکي په څلورم دیوان کي د 15,854 قضیو فیصله او څیړل، د قضا د ستاژ د کورسونو له دوري څخه 784 نفرو قاضیانو فراغت، او همداراز په 1391 کال کي د ښځو قضاتو د انجمن یا ټولنی رامنځته کول او د 5,000 ټوکه کتابونو چاپ؛
- د 10,000 دندو د تحقق تعقیب چي د وزیرانو د شورا مصوبات په کي شامل دي او د جمهوري ریاست د عالي مقام د 2,500 فرمانونو او احکامو تعقیبول؛
- د اداري اصلاحاتو د خپلواک کمیسیون له لاري د 1391 کال په لومړیو څلورو میاشتو کي د 11,973 لوړ پوړو او ټیټ پوړو مامورینو او د 690 ښوونکو د استخدام د پروسي بشپړتیا؛
- د دریو کلونو په اوږدو کي د حج، ارشاد او اوقافو د وزارت لخوا د 17عنوانونو لاندي د 50,000 ټوکه څیړنیزوکتابونو او 23 عنوانه نوو کتابونو چاپ؛
- بیت الله شریف ته دحج فرضي د اداء کولو په موخه د 30,000 حاجیانو لیږل او د هیواد په دننه او بهر کي ورته د لازمو اسانتیاوو برابرول
- په هرات، بلخ او کندهار ولایتونو کي د حاجیانو د کمپ جوړول او د ننګرهار د حاجیانو د کمپ دجوړولو دچارو 90 سلنه بشپړتیا؛
- د 118,539 تنو د حقوقي پوهاوي د کچي جګوالی په ځانګړي ډول په ښځو باندي د تاوتریخوالي قانوني او شرعي منع؛
- د ځمکو د غاصبینو له منګولو څخه دولت ته د 14,729 جریبه ځمکه، 3 ودانی ، 8 کورونه او 31 دوکانونو رالیږدول ؛

- د 434 نوو ټولنیزو سازمانونو، 205 نوو سازمانونو او 7 سیاسي ګوندونو ثبت او راجستر؛

د زیربناوو یا طبیعی زیرمو سکتور:

د دې سکتور تر ټولو زیاته برخه پرمختیایي بودجه جوړوي، چې نوموړې سکتورونو په 1391 مالي کال کې د پرمختیایي بودجې 45% تشکیلوي چې د بریښنا د تولید، سرکونو جوړل، کانونو، مخابراتو، ښار جوړولو او داسې نورو لپاره ځانګړې شوې ده. د 1391 مالي کال د بودجې د پلي کیدو مهمې لاسته راوړنې په لاندې ډول دي:

- په هیواد کې د غوره انټرنیټي خدمتونو د تر سره کولو په موخه د دریو مخابراتي کمپنیو لپاره د 3G انټرنټ د جواز توزیع کول چې له دې لارې په مجموعي ډول 75 میلیونه امریکایي ډالر عواید تر لاسه شوي دي؛
- د بامیانو او یکاولنګ تر منځ د 99 کیلومترو په اوږدوالي او د پل براق څخه د تردره یی صوف پورې د 64.5 کیلو مترو په اوږدوالي د سړک بشپړول؛
- د حاجیګک د اوسپنې د ایستلود تړون نهایی کول او د چینایي کمپنې سره د آمو د سیند د حوزې د تیلو د زیرمی د استخراج د تړون لاسلیک چې تر دې دمه په هیواد کې تر ټولو زیاته پانګونه ګڼل کیږي؛
- د اوسیدونکو او صنایعو لپاره د 70 میګاواټه بریښنا برابرول، چې په کابل، هرات، مزار شریف او نورو لویو ښارونو و یو شمیر ولایتونو کې د خلکو، سوداګرۍ او دولتي ادارو لپاره بریښنا ته برابره کړې ده.
- د نغلو د بند څلورو توربینونو څخه د دریو توربینونو بیارغونه او فعالول چې 100 میګاواټه بریښنا تولیدوي
- په کندهار او بادغیس ولایتونو کې د بریښنا د توزیع د شبکې د رامنځته کولو چارې به د 1392 کال تر پای پورې بشپړې شي؛
- په بلخ، ننګرهار، هرات، بامیان، کندهار، کندوز او یو شمیر نورو ولایتونو کې د خړوبولو د سیستم بیا رغونه؛
- د جبل السراج د سمینټو د فابریکې د فعالولو د چارو پیل او همداراز په هرات ولایت کې د سیمنټو د فابریکې د جوړولو د تړون د لاسلیک کولو د پروسې بشپړول؛
- په کمپیوټري او مدرنو وسایلو د پستې د سکتور سمبالول؛
- د مخابراتي خدمتونو 84% پوښښ؛

د پوهنې سکتور:

د پوهنې او روزنې او د لوړو زده کړو د څانګې د پراختیا او د پوهنې او لوړو زده کړو د کیفیت د لوړولو لپاره دغه سکتورته د عادي او پرمختیایي بودجې 16٪ ځانګړې شوې ده. د پوهنې، لوړو زده کړو، بدنې تربیت او سپورت په برخه کې د لاس ته راوړنو لنډیز په لاندې ډول دې:

- د عمومي زده کړو د زده کوونکو د شمیر 8.6 میلیونو ته زیاتوالې او د اسلامي زده کړو د زده کوونکو شمیر 218 تنو ته او د تخنیکي او مسلکي زده کړو د شاګردانو شمیر 53 زره تنو ته رسیدلې دی.
- د 740 تنو تخنیکي او مسلکي زده کړو د ښوونکو ګمارل، د سواد د زده کړې د کورسونو لپاره د 730 تنو زده کوونکو جذب او د سواد د زده کړې لپاره د 100 تنو ښوونکو ګمارل؛
- 712 بابه د عمومي زده کړو ښوونځیو، 138 مدرسې، 26 دارالحفاظونه، 9 دارالعلومونه او د 80 بابه تخنیکي او مسلکي ښوونځیو جوړول؛
- د عمومي او مسلکي زده کړو لپاره د 42 ملیونه ټوکه کتابونو چاپول؛
- په مرکز او ولایتونو کې د 24 تاریخي آثارو ترمیم او بیارغونه او په غزني ولایت کې د 9 تاریخي آثارو بیارغونه؛
- د عینک د مسو د کان څخه د ترلاسه شوو پخوانیو آثارو ثبت او راجستر، او د متنونو لیکل، د عبارتونو جوړول او د قرآن کریم د میناتورۍ تذهیب؛
- په ملي او نړیواله کچه د ورزشي افتخارونو ترلاسه کول چې د هغې له جملې څخه 680 د سرو زرو، د سپینو زرو او د برونز مډالونه دي چې ّپه نړیوالو سیالیو کی تر لاسه شوی دی؛
- د هیواد په ولایتونو کې د میدانونو او ورزشي جمنازیومونو جوړول؛
- د لوړز زده کړو د عالي شورا جوړول، د لوړو زده کړو په مؤسساتو کې د 41 زرو تنو نوو زده کوونکو جذب، په نوو اوه ولایتونو کې د شپې د پوهنځیو جوړول، هند، مالیزیا، ترکیې او آلمان ته د لسانس، ماسترۍ او دوکتورا د بورسونو لپاره د 500 محصلینو لیږل؛
- د لوړو زده کړو او نیمه لوړو زده کړو په خصوصي مؤسساتو کې د 5000 تنو هغو محصلینو ورپیژندل او شاملول شمولیت چې د 1391 کال په کانکور کې بې پایلې پاتې شوي دي؛

د روغتیا ســـکتور:

د روغتیایي خدماتو برابرول او عرضه کولو، د روغتیایي مرکزونو تاسیس کولو سره د هیواد د اتباعو د روغتیا د حالت ښه کیدل،د روغتیا د سکتور د پروګرامونو موخې دي، له دې امله د عامې روغتیا وزارت زیاته عادي او پرمختیایي بودجه لري او په 1391 کال کې د مجموعي بودجې 4.6% برخه ورته ځانګړې شوې ده. د دغه سکتور مهمې لاس ته راوړنې په لنډه توګه لاندې بیانیږي:

- په هرو 1000 ژوندیو ولادتونو کې له 111 څخه 77 ته د یوکال څخه د ټیټ عمر د ماشوم د مړینې د کچې ټیټوالي
- په هرو 1000 ژوندیو ولادتونو کې له 161 څخه 97 ته د پینځو کلونو څخه د ټیټ عمر د ماشوم د مړینې د کچې ټیټوالي
- د 200،000 ماشومانو لپاره د پنتا د واکسین د دریم پړاو پلي کول؛
- د 268 روغتیایي کارکوونکو لپاره د مور او ماشوم د روغتیا په برخو کې د روزنیزو پروګرامونو تر سره کول او همداراز 1580 روغتیایي کارکوونکو روزنه؛
- د عامې روغتیا د وزارت په ټولو ادارو کې د مالي او اداري اصلاحاتو پلي کول؛
- د نري رنځ (TB) د تشخیص او درملنې په موخه د مرکزونو د شمیر 1,031 ته رسول؛
- له 448 څخه 1210 ته د واکسین د خدمتونو د برابرولو د مرکزونو لوړول؛
- 1,000 څخه 2,500 ته د واکسین د کارمندانو د شمیر لوړول؛

د کرهنې او کلیو د پراختیا سکتور:

نوموړي سکتور د 1391 کال د مجموعي بودجې 11% د خپل ځان لپاره ځانګړې کړې ده چې د نوموړي سکتور ډېر پروګرامونه د بیوزلي د کمولو، د خوراکي خوندیتوب او د کلیوالو د تولیداتو پیاوړتیا، د کرهنیز اقتصاد بیارغونه او د کلیو پراختیا ده. د 1391 کال په اوږدو کې د اټکل شوو لاسته راوړنو لنډیز په لاندې ډول تشریح شوې دی:

- د 2,332 هکتاره پستې او 160هکتاره جلغوزو د ځنګلونو احیاء، اوبه خور او حفاظت؛
- د 198,156 هکتاره کرهنیزې ځمکې او 1,087,331 میوه لرونکو ونو د نباتي ناروغیو کنترول؛
- د مرکزي فارمونو په ګډون د هیواد په 34 ولایتونو کې د ډول ډول نیالګیو د روزنې په موخه د قوریو رامنځته کول او وده؛
- په ولایتونو کې د نباتي ناروغیو د تشخیص په موخه د دریو لابراتوارونو اعمار او بیا رغونه؛
- د طبیعي منابعو د ساتنې او د هغې څخه د ګټې اخیستنې په موخه د 315 ټولنیزو سازمانونو چې له 35,000 څخه زیاتې کورنې په کې ګډون لري، د عامه پوهاوي د کچې زیاتوالي؛
- د هیواد په 34 ولایتونو کې د 30 زره متریک ټنه غنمو او سرې پیرودل او توزیع کول؛
- په 19 ولایتونو کې د زعفرانو د وچولو د ماشینونو د پیرودلو تر څنګ د 11140 بزګرانو لپاره د 88 متریک ټنه زعفرانو پیاز پیرودل، وړل اوویشل؛
- په ولسوالیو کې د پرمختیایي شورا ګانو د بیا ځلي ټاکنو تر سره کول او د ولسوالیو د پرمختیایي پلانونو بیا کتنه؛
- په 13 ولسوالیو کې د پیښو د کنترول د فرعي کمیټو رامنځته کول او همداراز د پیښو د کنترول په موخه د 15 روزنیزو پروګرامونو برابرول؛
- د کلو د سرکونو د جوړولو د ملي پروګرام لاندې د 45 متره پول، 50 کیلومتره سرک او د 73 کیلو متره سرک دکلودبراختیادملي پروګرام په واسطه بیا رغول.

د ټولنیز مصؤنیت سکتور:

هغه فعالیتونه چې د ټولنې د مصؤنیت لپاره ترسره کیږي، د عادي او پرمختیایي بودجې په لګښتونو کې شامل دي، چې د راستنیدونکو د ملاتړ، د متقاعدینو د حقوقو او د وړتیاو د پراختیا د پروګرامونو له لارې تر سره کیږي، د 1391 کال مهمې لاسته راوړنې په لنډه توګه لاندې بیانیږي:

- د ټولنیز خوندیتوب د شبکې او د تقاعد د ریفورم د پروژې له لارې د 12598 لپاره په خپل وخت د 65,500,000 افغانیو وړ کول؛
- د تقاعد د سیستم الکترونیکي کول او متقاعدینو ته د 17000 بانکي کارتونو ویشل ؛
- د بهرنیو اتباعو لپاره د کار د جواز د سیستم الکترونیکي کول او د بهرنیو اتباعو لپاره د 16600 جوازونو ویشل؛
- د بې کاره وګړو لپاره د مسلکي زده کړود پروګرامونو برابرول او د39000 تنو لپاره د مسلکي زده کړې د پروګرامونو له (VET) لارې د بې کاره او زیانمنو ډلو لپاره د کاري فرصتونو برابرول؛
- د خوشحال خان د دویم نمبر لسیې د زده کوونکو لپاره د دري زریز خوړنځای او پخلنځي د ودانۍ جوړول؛
- د مهاجرینو په ښارګوټو(مینو) کې د لس کیلو متره سرک رغول، 7 کیلو متره کانال، 1400 متره د سرکونو د غاړو ویالې او درې دانۍ استنادي دیوالونه: چې د هغې له ډلې څخه باریک آب او عسقلان دي.

د اقتصاد سکتور:

د ملي بودجې د تمویل د سرچینو څخه د ملاتړ لپاره د مدیریت ښه کیدل، د خصوصي سکتور د سوداګریزو فعالیتونو او تولیداتو لپاره د اسانتیاو را منځ ته کول، او د نورمونو او ستندردونو جوړول چې د نوموړي سکتور مهم فعالیتونه دی. په دې برخه د 1391 کال په اوږدو کې مهمې لاسته راوړنې په لاندې ډول بیانیږي:

- د ټوکیو د کنفرانس د سند جوړول؛
- د استثنایي انفصال د حقوقو (Golden Handshake) مسوده ترتیب او د وزیرانو د عالي شورا لخوا تصویب شوې ده چې په نږدې وخت کې د اجراء وړ ده؛
- د پلان سره سم د کورنیو عوایدو راټولول؛
- په ربعوار ډول د مالي نشریې چاپ او نشر او د مالیې وزارت د ویب سایټ له لارې د میاشتینې مالي راپور نشرول؛
- د 1,830 په شاوخوا کې نوې جوازونه او د 7,140 په شاوخوا کې جوازلیکونه ثبت، راجستر او ویشل شوي دي؛
- د ستندرد د عالي شورا لخوا د 87 نوو نورمونو تصویب او پلي کیدل؛
- د ستندرد ملي اداره په منطقوي او نړیوالو سازمانونو کې خپل فعال ګډون ته ادامه ورکوي او د نړیوال ستندرد د نړیوال سازمان په عمومي غونډه (ISO) او د مخ پر ودې هیوادونو دستندرد په غونډو کې (DEVCO) ګډون کوي او همداراز د جنوبي آسیا د هیوادونو (SARSO/ASSRC) په فعالیتونو کې او په منظم ډول د کار په کمیټه او د همغږۍ په بورډ کې ګډون کوي، همداراز یې د ایکو په سازمان کې خپل ګډون ساتلې دې؛
- د لابراتوارونو د اعتبارورکولو په نړیوال سازمان (IIAC) کې د افغانستان دستندرد د ملي اداري د غړیتوب تر لاسه کول؛
- د لګښتونو د نورمونو د تثبیت په برخه کې د وسایطو، جنراتورونو، او ګازي بخاریو د سلګونو نورمونو تثبیت؛
- د نفتي موادو د معاینې له مدرکه په مرکز او د حیرتانو او آقیني په بندرونو کې د 1391 کال د پلان شوو عوایدو په پرتله د عوایدو زیاتوالي چې د دولت د وارداتو حساب ته لیږدول شوي دي؛

د 1392 مالي کال د پلانونو لنډیز:

د امنیت سکتور:

د 1392 کال لپاره د امنیت د سکتور پلانونه په لاندې ډول خلاصه شوي دي:

- د ملي اردو او ملي پولیسو د پرسونلو تجهیز، تعلیم او تربیه تر څو وکولای شي د هیواد په کچه د ټولو افغانانو لپاره امنیتي خدمتونه تر سره کړي؛
- د خپلواکو عملیاتو د تر سره کولو په موخه د امنیتي ځواکونو د وړتیاوو لوړول؛
- د ولایتونو د امنیت د مسؤولیت په غاړه اخیستل او په بریالي ډول د انتقال د پروسې پلي کول؛
- د روزنیزو پروګرامونو تر سره کول او د خود کفا امنیتي سیستم د رامنځته کولو په موخه د ځواکونو د مسلکي کیدلو د لړۍ پیل؛
- د لیږل شوو ځواکونو د سوق او اداري په موخه د ځمکني ځواکونو د مرکز رامنځته کول، چې د د فاع وزارت مشرتابه ته توان وربښي تر څو په استراتیژیو، پلانونو او پالیسیو په ترتیب تمرکز وکړي او په تکتیکي او عملیاتي مسایلو په برخه کې تمرکز کم کړي.

د حــکومتداری، د قانون د حــاکمیت او بشري حقونو سکتور:

د 1392 کال لپاره د حــکومتداری، د قانون د حــاکمیت او بشري حقونو د سکتور پلانونه په لاندې ډول خلاصه شوي دي:

- په هغه ادارو کې چې د رتبو او معاشونو پلي کول چې تر دې دمه پکې ندې بشپړ شوې؛
- د عدلي او قضایي پروګرام له لارې چې د نړیوال بانک لخوا تمویل کیږي، د عدلي او قضایي سازمانونو د ظرفیتونو لوړوالي او همداراز د افغانستان د ملکي خدمتونو د ملاتړ د پروژې په واسطه چې USAID یې تمویلوي، په مرکز او ولایتونو کې د ملکي خدمتونو د کارمندانو د ظرفیتونو لوړوالي؛
- د ولسوالیو په کچه د خدمتونو د تر سره کولو د پروګرام له لارې په ولایتونو کې د ولایتي ادارو ملاتړ او د خدمتونو تر سره کول، چې د ډنمارک، انګلستان او فرانسې هیوادونو لخوا تمویلیږي؛
- د حــکومتداری، د قانون د حــاکمیت او بشري حقونو د سکتور د اړونده اداري ودانیو او تاسیساتو جوړول او ترمیم، لکه د ملکي خدمتونو او اداري اصلاحاتو د کمیسیون د مرکز د ودانۍ جوړول، د اداري درغلیو په وړاندې د مبارزې د عالي اداري د مرکزي دفتر جوړول، د ننګرهار ولایت د افغانستان د بشري حقونو د خپلوا کمیسیون او مرکزي ودانۍ رغول، د مشرانو جرګې د غړو لپاره د کار د دفترونو رامنځته کول؛

- د ثبات د ټینګښت د پروګرام له لاري د ولایتونو د اداري ودانیو جوړول، د جمهوري ریاست د ارګ د ودانیو او زیربناوو د ترمیم او جوړولو د چارو بشپړتیا، لکه د دلکشا ماڼي، حرامسرای او ګلخاني ماڼي اساسي ترمیم او د جمهوري ریاست د ارګ په چاپیریال کې د دویم نمبر ماڼی جوړول؛
- د غزني ولایت د اسلامي کلتور او فرهنګ د مرکز د اړونده تاسیساتو بنسټیز ترمیم؛
- د سرپل او باغیس ولایتونو د ښار د داخلي سرکونو قیر کول او همداراز په ډیرو نقطو کې د جوماتونو جوړول.

د زیربناوو او طبیعي منابعو ســکتور:

د 1392 کال لپاره د زیربناوو او طبیعي منابعو د سکتور پلانونه په لاندې ډول خلاصه شوي دي:

- په کندهار او بادغیس ولایتونو کې د بریښنا د رسولو د شبکې بیا رغونه؛
- په هرات، جبل السراج، چاریکار، کندوز، بغلان، جلال آباد او لغمان ولایتونو کې د بریښنا د ویشلو د پروژې داوم؛
- په کابل کې د شاه او عروس، په پکتیا کې د مچغلو، په هرات کې د سلما، په نیمروز کې د کمال خان او په فاریاب کې د المار د بندونو د جوړولو د چارو داوم، چې تر 1393 کال پورې بشپړیږي او نوې کرنیزې ځمکې خړوبوي چې د کرنیزو تولیداتو په ښیګڼه اود کارونو په موندلو کې اساسي رول لوبوي؛
- د کوهسان او غوریان د ویالو بیا رغونه او د IRDP پروژې په واسطه چې د نړیوال بانک لخوا تمویلیږي، په ټول هیواد کې د خړوبولو د شبکو جوړول؛
- په هرات ولایت کې د زنده جان او جوی نو د کانالونو د چارو داوم او د بلخ په ولایت کې د سمرقندیان، بنګالي او نهر لشکري د خړوبولو د ویالو بیا رغونه؛
- د مسو او سرو زرو د څلورو لویو کانونو د داوطلبي پروسه به د 1392 کال په اوږدو کې بشپړه شي، نوموړي کانونه د بدخشان، غزني او هرات په ولایتونو کې موقعیت لري.
- د پروان، بامیان، چغچران، تخار او بدخشان په ولایتونو کې د 1000 کیلو مترو نوري فایبر پلي کول؛
- د الیکترونیکي تذکرو د پروژې داوم؛
- د نیمروز، بامیانو، دایکندی، خوست، فراه او غزني د ولایتونو د هوایي ډګرونو بیارغونه؛
- د ارملک لامان، لامان – قیصار، فیض آباد - بهارک د سرکونو جوړول او د جبل السراج- سروبی، کابل- جلال آباد دویم لین، او بامیان- یکاولنګ د سرکونو داوم؛
- د چاه انجیر څخه تر ګرشک ولسوالي پورې د 33 کیلومترو په اوږدوالی او د شرني څخه د انګور اډې پورې د 55 کیلو مترو په اوږدوالي د سرک جوړول؛
- د یکاولنګ، ترینکوټ تر قندهار پورې د 550 کیلومترو په اوږدوالي د سرک اقتصادي او تخنیکي سروې او څېړنه.

د پوهنې سکتور:

د 1392 کال لپاره د پوهنې د سکتور پلانونه په لاندې ډول خلاصه شوي دي:

- د عمومي زده کړو د زده کوونکو د شمیر زیاتوالي له 8.6 میلیونه تنو څخه 9.2 میلیونو تنو ته چې 41% یې نجونې تشکیلوي؛
- د اسلامي زده کړو د زده کوونکو د شمیر زیاتوالي له 218,000 څخه 242,600 تنو ته؛
- د عمومي زده کړو د ښوونځیو د شمیر زیاتوالي له 14,048 څخه 15,204 ښوونځیو ته؛
- د اسلامي تعلیماتو د زد ه کړې د مرکزونو د شمیر زیاتوالي له 771 څخه 828 مرکزونو ته؛
- د عمومي زده کړو لپاره د 6,200 درسي ټولګیو جوړول؛
- د اسلامي زده کړو لپاره د 500 درسي ټولګیو جوړول؛
- د 500 ښوونځیو، د ښوونکي د روزنې د مرکزونو او د ساینس د لابراتوارونو سمبالول،
- له لومړي ټولګي څخه تر شپږم ټولګي پورې د 186عنوانه درسي کتابونو وده او د نظر تجدید، او د 50 میلیونه ټوکه کتابونو، ښوونکي د لارښوونې، د ښوونکي د روزنې د مرکزونو، کتابونو او درسي موادو چاپ او نشر او د خدمت په دننه او د خدمت څخه د مخه د 75,000 تنو ښوونکو لپاره چې 38% یې ښځینه دي، د دوه کلن روزنیز پروګرام برابرول؛
- د 95,520 موجودو ښوونکو لپاره د لنډمهاله کورسونو برابرول؛
- د ښوونکي د روزنې لپاره د 6 مرکزونه جوړول، د ښوونکي د روزنې د محصلینو لپاره د شلو لیلیو جوړول؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کوونکو په شمیر کې زیاتوالي چې له 80,000 څخه 110,000 تنو ته رسیږي چې 18% سلنه یې ښځې تشکیلوي، د 14 بابه ښوونځیو جوړول او د مختلفو برخو لپاره د 800,000 ټوکه کتابونو چاپ؛
- د سواد د زده کړې د 28,808 کورسونو جوړول، د 770,000 سواد زده کوونکو روزنه چې 58% یې ښځینه دي، د 1,100,000 ټوکه د سواد د زده کړو د کتابونو چاپ او توزیع او د سیمه ایزو زده کړو د 30 مرکزونو جوړول؛

د روغتیا ســـکتور:

د 1392 کال لپاره د روغتیا د سکتور پلانونه په لاندې ډول خلاصه شوي دي:

- د روغتیا د سکتور لپاره د عوایدو د استراتیژي پلي کول؛
- د روغتیا د وزارت د پینځه کلن ستراتیژیک پلان پلي کول او د هغه قیمت ټاکنه؛
- د روغتیا د ملي حسابونو د دویم راپور وړاندې کول او باید وضاحت ورکړل شي؛
- د افغانستان په کچه د روغتیا د بیمې د پلي کولو د امکان د مطالعې تر سره کول؛
- د EPHS روغتونونو په اړه د کورنیو او بهرنیو تړونونو د لارو چارو اقتصادي څېړنه او مطالعه.

د کرنې او کلیو د پراختیا ســـکتور:

د 1392 کال لپاره د کرنې او کلیو د پراختیا د سکتور پلانونه په لاندې ډول خلاصه شوي دي:

- د اوبه خور د 175 انجمنونو جوړول او175 د اوبه خور د شبکې جوړول او 25 نمایشي قطعې؛
- د 19,320 متر مکعب چکدم (بند) جوړول، د اوبو د ذخیرې بندونه، د اوبه خور ویالې او په ولایتونو کې د بندونو د ساتنې لپاره د کمیټو جوړول؛
- په کابل او مزار شریف کې د وچې میوې د صادراتو د لابراتوارونو سمبالول؛
- په 34 ولایتونو کې د کرنې وده او د کلیو پراختیا- د کلیو اقتصادي ملاتړ؛
- د کرنیزو خدمتونو د تر سره کولو په موخه د معیاري کوپراتیفونو رامنځته کول او پیاوړتیا او د کوپراتیف د غړو د بزګرانو او تحقیقاتي کارمندانو لپاره د روزنیزو کورسونو لپاره چمتووالي؛
- د 2000 نوو ټولنو سبمالول او د 5000 نوو پرمختیایي ټولنو رامنځته کول؛
- د کلو د سرکونو د جوړولو د پروګرام لاندې د 672 کیلو متره سرک بیا رغونه؛

د ټولنیز مصئونیت سکتور:

د 1392 کال لپاره د ټولنیز مصئونیت د سکتور پلانونه په لاندې ډول خلاصه شوي دي:

- د 30140 لپاره د مسلکي زده کړې د پروګرامونو له (VET) لارې د بې کاره او زیانمنو ډلو لپاره د کار موندنه.
- د ماشومانو د مراقبت لپاره درې مرکزونه رغول کیږي؛
- د سرحدي او نا امنه ولایتونو د 5300 تنو زده کوونکو لپاره په دریو لیسو او د سرحدونو، اقوامو او قبایلو چارو په وزارت کې د روزنې د فرصتونو برابرول؛
- په شپږو ولایتونو کې د سرحدونو، اقوامو او قبایلو چارو د ریاست د اداري ودانۍ جوړول، د خوشحال خان د لیسې لپاره د پنځه بلاکه لیلیې د ودانۍ جوړول؛
- د ښځو لپاره د دوه روزنیزو مرکزونو رامنځته کول (ښځینه پارکونه).

د اقتصاد سکتور:

د 1392 کال لپاره د اقتصاد د سکتور پلانونه په لاندې ډول خلاصه شوي دي:

- د پانګونې د قانون ترتیبول او تقنیني مراجعو ته د هغوې لیږل؛
- د بهرنۍ سوداګرۍ د قانون جوړول؛
- د مالونود سوداګرۍ او استراتیژیکو خدمتونو د کنترول د قانون ترتیبول؛
- د افغانستان د ملي ستندرد په اداره کې د سوداګریزو مالونو د چک کولو په موخه د کیفي سیستمونو رامنځته کول؛
- د ملي استندردونو او ساختماني کوډونو رامنځته کول او پلي کول؛
- په بشپړ ډول دستندرد په نړیواله اداره ISO کې غړیتوب تر لاسه کول؛
- د افغانستان په مهمو بندرونو یا پولو کې د ودانیزو توکو د پلټنې د چارو پیلول.

	منځمهالی مالی چوکاټ (1388-1394)						
	1388	1389	1390	1391	1392	1393	1394
	حقیقی	حقیقی	حقیقی	بودجه	بودجه	تخمینی	تخمینی
	تمام ارقام به ملیون افغانی						
عواید	**131,805**	**172,429**	**198,069**	**228,346**	**350,363**	**330,081**	**348,793**
کورني عواید	63,619	80,384	99,342	87,910	122,527	131,445	147,547
په عادي بودجه کي د عوایدو ونډه				77,279	107,277		
په پرمختیایي بودجه کي د عوایدو ونډه				7,631	15,250		
د مرستندویانو مرستي (د عادي بودجي لپاره)	32,768	57,753	66,711	56,997	87,004	63,709	59,573
د مرستندویانو مرستي (د پرمختیایي بودجي لپاره)	35,419	34,291	32,015	76,334	128,502	134,927	141,673
نوری منابع				7,104	12,330		
د مرستو مجموعه	**68,186**	**92,044**	**98,726**	**133,331**	**215,506**	**198,636**	**201,246**
اصلي لګښتونه	**131,304**	**153,867**	**200,287**	**252,764**	**366,234**	**365,675**	**368,964**
د عادي بودجي لګښتونه	**87,313**	**110,486**	**149,385**	**157,085**	**196,207**	**195,647**	**198,936**
کوډ 21 (معاشونه)	64,256	86,474	111,717	102,172	141,004	141,004	141,004
کوډ 22 (توکي او خدمتونه)	16,859	17,158	25,865	30,899	27,496	28,871	30,314
کوډ 25 (د شتمنیو لاس ته راوړل)	1,333	1,590	0	7,679	2,431	2,431	2,431
احتیاطي کوډونه	4,865	5,264	11,804	16,334	25,278	23,342	25,187
د پرمختیایي بودجي لګښتونه (د سکتورونو پر بنسټ)	**43,991**	**43,382**	**50,902**	**95,679**	**170,028**	**170,028**	**170,028**
امنیت	996	441	528	889	33,090	33,090	33,090
حکومتداری، د قانون حاکمیت او بشري حقونه	1,346	1,293	1,877	2,538	4,433	4,433	4,433
زیربناوي او طبیعي سرچینې	15,376	20,633	23,753	43,269	54,033	54,033	54,033
پوهنه	5,438	4,793	6,699	8,631	21,207	21,207	21,207
روغتیا	3,689	4,283	2,990	6,522	10,534	10,534	10,534
کرهنه او د کلیو پراختیا	14,474	9,080	11,625	21,965	33,220	33,220	33,220
ټولنیز مصؤنیت	615	489	497	998	1,210	1,210	1,210
اقتصادي حاکمیت او د خصوصی سکتور پراختیا	2,058	2,369	2,933	4,675	7,291	7,291	7,291
احتیاطي کوډونه	0	0	0	3,875	5,010	5,010	5,010
د عادي بودجي کچه مازاد/کسر (له مرستو پرته)	**(23,695)**	**(30,101)**	**(50,043)**	**(79,806)**	**(88,930)**	**(64,202)**	**(51,389)**
د عادي بودجي میزان مازاد/کسر (د مرستو په ګډون)	**9,073**	**27,652**	**16,668**	**(12,177)**	**(1,925)**	**(493)**	**8,184**
د اصلي بودجي مازاد/کسر	**501**	**18,561**	**(2,219)**	**(24,419)**	**(15,872)**	**(35,595)**	**(20,171)**
تمویل (پورونه)				**(3,672)**	**(2,935)**		
د ثابتو جایدادونو خرڅول					**(260)**		
د اصلي بودجي مازاد/کسر	**501**	**18,561**	**(2,219)**	**(20,747)**	**(12,677)**	**(35,595)**	**(20,171)**
د یادوني وړ نقطی							
نا خالص کورني تولیدات (په میلیون افغانیو)	**615,082**	**729,905**	**861,947**	**1,028,111**	**1,161,694**	**1,288,408**	**1,434,705**
دهیواد د نا خالصو کورنیو تولیداتو وده په فیصدی	21.0%	8.4%	7.0%	9.0%	9.9%	2.1%	4.6%
د نرخونو پرسوب (کال په کال په سلنه)	-12.2%	7.7%	11.8%	8.5%	6.7%	5.0%	5.0%
د اسعارو د تبادلي نرخ له ډالرو څخه افغانیو ته	48.5	45.4	48.5	50.0	52.0	53.5	55.6

*** په احتیاطي کوډونو کي سبسایډي، انتقالات او د تقاعد د حقوقو تادیه شامل دي.**

د دولت د پورونو او پانګونې د استراتیژۍ تفصیل

د دولتي پانګونې د استراتیژۍ تفصیل

د اضافي بودجې په اړه چې په بیړني ډول ورته اړتیا نه لیدل کیږي، د مالیې وزارت د پالیسۍ له مخې باید اضافي بودجه باندې پانګونه تر سره شي، تر څو یې دولت ته ګټه ورسیږي. اوس مهال د افغانستان بانک د دولت په استازیتوب پانګونه کوي او کومه ګټه چې د هغې څخه ترلاسه کیږي، د بانکي خدماتو د لګښتونو د تادیې په موخه د افغانستان بانک لخوا د دولت لپاره ساتل کیږي. وړاندوینه کیږي چه په راتلونکو کلونو کې به تر لاسه شوې ګټه دولت ته سپارل کیږي او د افغانستان بانک به د خپلو بانکي خدمتونو لګښتونه له دولت څخه د مارکیټ په بیه ترلاسه کوي.

د دولت د بسپنو د پانګونې اصلي موخه د پانګه اچونو د احتمالي خطراتو په پام کې نیولو سره د پانګونې له لارې د عوایدو د کچې زیاتوالي دی. د دولت په مالي بسپنو د پانګونې واک د مالي چارو او عامه لګښتونو د ادارې د قانون د پنځلسمې مادې پر بنسټ د مالیې وزارت ته ورکړل شوې دی.

د مالیې وزارت د منلو وړ پانګونې لپاره د خپلو اضافي بسپنو لپاره لاندې اصول په پام کې نیسي:

- د پانګونې د اصولو تضمین؛
- د پانګونې موده؛
- په پیسو باندې د پانګونې بدلون؛
- د پانګونې تنوع؛
- په بهرنیو اسعارو باندې د افغانیو د بدلون د خطر کموالې.

د هغه بسپنو مقدار چې وخت په وخت پرې پانګونه تر سره کیږي، د مالیې وزارت د مختلفو ادارو لکه د بودجې لوی ریاست د نظریاتو په پام کې نیولو سره، د نغدي بسپنو د ادارې، د پورونو او د شتمنیو د تنظیم څانګه د مالیې وزارت د خزاینو د لوی ریاست لخوا تنظیمیږي.

د نوموړې استراتیژۍ د پلې کولو څخه د مالیې وزارت موخه د افغانستان بانک سره په مشترک ډول کار کول دي، تر څو د پانګونې په برخه کې د سپما له لارې ګټه ترلاسه کړي چې اوسمهال پکې بانک کارول کیږي. ټولې پانګونې د بازار د شرطونو سره سمې تر سره کیږي.

1.1 د افغانستان د اسلامي جمهوریت زاړه او نوي پورونه

د نړیوالو اصولو سره سم بهرني پورونه د پور ورکوونکو هیوادونو او د افغانستان د اسلامي جمهوریت تر منځ د یوه هوکړه لیک پر بنسټ تنظیم او اداره کیږي. په نوموړو هوکړه لیکونو کې یادونه کیږي چې پور په کومو برخو کې مصرفیږي، او پور ورکوونکي هیوادونه باید د هغو پروژو په اړه معلومات ولري چې پورونه یې پکې مصرفیږي.

د پور ورکوونکو هیوادونو لخوا د پورونو ورکړه او تادیه د تړون سره سم په قسطونو باندې د تادیې وړ ده. په عمومي ډول د افغانستان د اسلامي جمهوریت پورونه پرمختیایي پروژې دي، چې په دوه ډوله دي:

1- بې له ټکټانې پورونه

بې له ټکټانې پورونه چې د اصلي پور قسطونه یې د بیرته تادیې وړ دي، لکه د سعودي د پرمختیایي صندوق پورونه.

2- د اداري لګښتونو لرونکي او هغه پورونه چې د نه مصرف په صورت کې پرې مالیات وضع کیږي.

د اداري لګښتونو لرونکو او هغه پورونو چې د نه مصرف په صورت کې پرې مالیات راځي، د مالیاتو تادیه د تړون له مخې د شپږو میاشتو په موده (شپږ میاشتې په شپږ میاشتې) کې تادیه کیږي، لکه د آسیا د پرمختیایي بانک، اسلامي پرمختیایي بانک او د نړیوال بانک اړونده پورونه. له هغه مبالغو څخه چې پور ورکوونکي یې د پوروړي په واک کې ورکوي او پوروړي ونشي کولای چې نوموړي مبالغ د یو لړ پروژوي ستونزو له امله وکاروي، پدې صورت کې یو ډول ځانګړې فیس د تادیې وړ دی چې د ژمنې یا تعهد د فیس په نامه یادیږي چې نوموړي شرایط د نړیوال بانک په ټولو پورونو کې د پلې کیدو وړ دي. دغه ډول فیسونه په ټولو هیوادونو کې یو ډول وي او له نیکه مرغه نوموړي فیسونه په دې وروستیو کې تقریباً د صفر کچې ته راټیټ شوي دي.

سهیمه (د غړیتوب حق): د افغانستان اسلامي جمهوریت د 1955 زیږدیز کال کې د نړیوال وجهي صندوق غړیتوب تر لاسه کړ او په ربعوار ډول هر کال د غړیتوب حق ورکوي.

باید یادونه وشي چه:

- په مجموعي ډول د نړیوال بانک سره په 9 پورونو هوکړه شوې، چې 432 میلیونه امریکایی ډالره کیږي چه د دې جملې څخه 415 میلیونه امریکایی ډالر افغانستان ته ورکړل شوي دي. د افغانستان دولت تر دې دمه هیڅ ډول تادیه نه ده تر سره کړي او د ټولو پیسو پوروړي دی.
- د اسیا د پراختیایي بانک د پورونو شمیر 14 ته رسیږي، چې 758.62 میلیونه امریکایی ډالر کیږي چې ددې جملې څخه 681 میلیونه امریکایي ډالره پوروړې دی.
- داسلامي پراختیایی بانک د 4 پورونو مجموعه 68 میلیونه امریکایی ډالر کیږي چې د دې جملې څخه 21 میلیونه افغانستان ته ورکړل شوي دي. دافغانستان دولت تر اوسه دا پیسې بیرته ندي تادیه کړي او د ټولو پیسو پوروړی دی .
- د سعودی پراختیایی صندوق د 2 پورونو مجموعه 80 میلیونه امریکایی ډالر کیږي، چې د دې جملې څخه 46 میلیونه افغانستان ته ورکړل شویدي. د افغانستان دولت تر اوسه دا پیسې ندی ورکړي او د ټولو پیسو پوروړې دی.
- د نړیوال وجهي صندوق (IMF) ټول پورونه د 248 میلیون امریکایی ډالرو څخه زیاتیږي، چې د دې جملې څخه 131 میلیونه افغانستان ته ورکړل شویدی. د افغانستان دولت تر اوسه دا پیسې نه دي تادیه کړي او د ټولو پیسو پوروړې دی.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پورونو مجموعي بښنه د پورونو د بښونکو هیوادونو او د بښني د اعلان د نیټې په تفکیک:

- د چین هیواد د 2004 زیږدیز کال د مارچ په میاشت کې له 9.6 میلیونه پونډه څخه زیات پورونه بښلي دي چې د 18.80 میلیونه امریکایي ډالرو معادل کیږي؛
- د ډنمارک دولت له 5 میلیونه کرونو څخه زیات پورونه بښلي دې چې 0.90 میلیونه امریکایي ډالرو سره معادل کیږی؛
- د سلواک دولت د 2005 زیږدیز کال د جنورې په میاشت کې له 29.34 میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیات پورونه بښلي دي؛
- د جرمني دولت د 2002 زیږدیز کال د سپتمبر په میاشت کې له 34.5 میلیونه استرلنګ پونډه څخه زیات پورونه بښلي دي چې د 67.51 میلیونه امریکایي ډالرو سره سمون لری؛
- د جرمني دولت د 2007 زیږدیز کال د اپریل په میاشت کې له 29.6 میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیات پورونه بښلي دي؛
- د روسیې دولت د 2007 زیږدیز کال د اګست په میاشت کې له 10,316.22 میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیات پورونه بښلي دي؛
- د سعودي عربستان شاهي دولت د 2008 زیږدیز کال د جنورې په میاشت کې له 12.8 میلیونه استرلنګ پونډ چې 24 میلیونه امریکایي ډالره کیږي، پورونه بښلي دي؛
- د عراق دولت د 2008 زیږدیز کال د می په میاشت کې له 9.5 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات معافیت کړې دی؛
- د کروشیا دولت له 0.41 میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیات پورونه بښلي دي؛
- نړیوال پراختیایی بانک په 26 د می 2010 کی د 69.8 میلیون امریکایی ډالرپور بښلي دی؛
- د امریکا د متحده ایالاتو په 22 جولای 2010 کی د 108.5 میلیونه امریکایی ډالر پور بښلي دی؛
- د پخوانی جرمنی جمهوری دیموکراتیک هیواد په 17 مارچ د 2010 کال د 17 میلیون ډالر بښلی دی؛

باید یادونه وشي چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پورونو مجموعي معافیت له 1381 کال څخه د 1391 کال د دویمې ربعې پورې له 12,381.78 میلیارده امریکایي ډالرو څخه زیات دې.

هغه مجموعی پورونه چه د افغانستان اسلامی جمهوریت یی باید په راتلونکی کی بیرته تادیه کړي او یا یی بښنه تر لاسه کړي په لاندې ډول دي:

<u>د پخوانیو کلونو پورونه:</u>

- د کویت پرمختیایي پورونه چې د 21.9 میلیون امریکایی ډالرو څخه زیات دي؛
- د ایران پورونه چې 9.99 امریکایی ډالر کیږي؛
- د اوپک د پرمختیایي صندوق پورونه چې له 1.94 میلیونه امریکایی ډالرو زیات دي؛
- د بلغاریا حکومت پورونه چې 51.04 میلیون امریکایی ډالر کیږي.

د مالی وزارت

د خزاینو عمومی ریاست

د پورونو د اداری کلنی راپور

ارقام په ملیون افغانیو

د 1390 کال د تلی د میاشتی له لومړی نیټي څخه د 1391 د وړي تر پای پوری کلنی راپور

قروض جاری	منل شوي مبالغ A	د کارول شوی مبلغ څخه پاتی مقروضیت د اداری لګښتونو د زیاتوالی په ګډون د 1391 کال د دویمی ربعی تر پای پوری B	د اصلی پور څخه کارول شوی مبلغ د 1390 کال د دویمی ربعی له پیل څخه د 1391 کال د دویمی ربعی تر پای پوری C	بیرته ورکړه اصلي پور D	بښنه اصلي پور E	د اداري لګښتونو زیاتوالي F	د اسعارو بدلونونه G	کارول شوی مبلغ څخه پاتی شوي پورونه د اداري لګښتونو د زیاتوالي په ګډون د 1391 کال د دویمی ربعی تر پای پوری H =B+C-D-E+F-G	بیرته ورکړه اداري لګښتونه	بښنه اداري لګښتونه
نریوال پرمختیایی بانک	22,607.2	20,170.6	456.9	0.0	0.0	0.0	-1,066.7	21,694.3	91.1	62.9
د اسیا پرمختیایی بانک	39,623.0	31,431.1	1,595.3	17.7	11.3	1,801.9	-802.1	35,601.4	22.2	0.8
اسلامی پرمختیایی بانک	3,553.1	564.7	53.9	0.0	0.0	0.0	-663.5	1,282.1	20.6	0.0
دسعودی پرمختیایی بانک	4,225.1	2,280.6	0.0	0.0	0.0	0.0	-157.3	2,437.9	0.0	0.0
د امریکا متحده ایالات	0.0	0.0	0.0	0.0	0.0	0.0	0.0	0.0	0.0	0.0
جرمنی	0.0	0.0	0.0	0.0	0.0	0.0	0.0	0.0	0.0	0.0
د اوپک فند	103.3	95.7	0.0	0.0	0.0	0.0	-7.5	103.3	0.0	0.0
نریوال وجهي صندوق	12,828.0	5,728.9	589.7	110.3	0.0	0.0	-674.2	6,882.4	0.0	0.0
د جاري پورونو مجموعه	***82,939.6***	***60,271.6***	***2,695.8***	***128.0***	***11.3***	***1,801.9***	***-3,371.3***	***68,001.3***	***133.9***	***63.7***
تول پورونه										
بلغاریا	2,987.2	2,388.0	0.0	0.0	0.0	534.5	371.8	2,550.7	0.0	0.0
د کویت فند	1,521.6	1,087.9	0.0	0.0	0.0	478.5	424.3	1,142.0	0.0	0.0
ایران	567.5	491.2	0.0	0.0	0.0	52.5	13.9	529.8	0.0	0.0
د تولو پورونو مجموعه	***5,076.2***	***3,967.1***	***0.0***	***0.0***	***0.0***	***1,065.5***	***810.0***	***4,222.6***	***0.0***	***0.0***
نور پورونه	***88,015.8***	***64,238.7***	***2,695.8***	***128.0***	***11.3***	***2,867.4***	***-2,561.3***	***72,223.8***	***133.9***	***63.7***

د بودجی د اجراء لارښود

نوموړي لارښودتکی د بودجي د اجرا کړنلار ه بیانوي.

د بودجی د مقرراتو سره سم د بودجي د اجرا او نظم په موخه لاندي ټکي اړین بلل کیږي:

1. د وزیرانو شورا د تائید، د ملي شورای لخوا د دبودجي د تصویب او د ولسمشر د توشیح څخه وروسته بودجه نهایی ګڼل کیږي او بودجوي واحدونه مکلف دي چې خپل ټول پلانونه او اجراآت د نهایی ارقامو سره برابر کړي.
2. ټول وزارتونه باید خپل مالي او تدارکاتي پلانونه د مالیي وزارت د متحدالمال سره سم د مالي کال د پیل څخه د مخه د بودجي په اړه د وزیرانو د شورا د مسودې سره سم د فصلونو پر بنسټ لګښتونه او ولایتونه په میاشتیني ډول د عادي او پرمختیایی بودجو په برخه کي تر تیب کړي او د بودجي لوي ریاست ته دي ولیږدوي، د دي تر څنګ باید خپل ټول لګښتونه د مالي او تدارکاتي پلانونو سره سم چمتو کړي.
3. د تدارکاتو د قانون د (15) مادي د (1) فقري پر بنسټ، تر هغه پوري چې عامه وجوه (بودجه) د مالي چارو او لګښتونو د قانون سره سم منظور شوي نه وي، هیڅ ډول تدارکات نشي تر سره کیدلای، مګر کله چې د وزیرانو د محترمي شورا لخوا د 1392 کال بودجه تصویب شي، بودجوي اداري کولاي شي د وخت د سپما په موخه د تدارکاتو لومړنی چاري پیل کړي. خو د قرارداد عقد باید یوازی د ولسی جرګی د تصویب څخه وروسته تر سره شي.
4. د مالي چارو او عامه لګښتونو د قانون د 37 مادي پربنسټ (دولتي اداري باید د بودجي دکړنلاري (دغه سند) چی د نوموړي قانون (د مالي چارو او عامه لګښتونو) د حکمونو سره سم ترتیب او د ولسي جرګي له لخوا تصویبیږي، اجراات وکړي، د قوانینو سره د ټکر په صورت کي د نوموړي کړنلاري احکامو ته ترجیح ورکول کیږي.
5. د ساختماني پروژو په برخه کي لکه د دولتي ادارو، وزارتونو، او ټولو بودجوي واحدونو لپاره د ودانیو په جوړولو کي د کار د چټکتیا او د وخت د سپما په موخه، په هغه صورت کي چې په خپل تشکیل کي ساختماني انجینران ولري، مکلف نه دي چې د نقشي د ترلاسه کولو او نورو ساختماني چارو لپاره د ښاري پراختیا وزارت ته مراجعه وکړي. په دي برخه کي هر ډول پریکړه د اړونده وزارت له صلاحیتونو او مسؤولیتونو څخه ده.
6. له یوه باب څخه بل باب ته تعدیلات د مالیي وزارت د صلاحیتونو څخه دي، قراردادونه او ټولي خریداری باید د منظور شوي بودجي او بودجوي فصلونو په کي تنظیم کړای شي، هیڅ بودجوي واحد نشي کولای چې د ټاکل شوي بودجي څخه پورته د خدمتونو او اجناسو قرارداد لاسلیک.
7. د 1392 مالي کال بودجه د هر څپرکی د جزئیاتو په پام کي نیولو سره محاسبه شوی ده او بودجوي واحدونه مکلف دي چې د هر فصل په اډانه کي خپل لګښتونه تنظیم کړي.
8. په 1392 کال کي لاندي فصلونه د نورو فصلونو سره د تعدیل وړندي:

   معاشونه، اعاشه، د بریښنا لګښت، اوبه، پاکوالي، د مخابراتو محصول، حفظ او مراقبت او د وسایطو ترمیمول او د تعمیراتو بیا رغونه.
9. له ټولو فصلونو او کودونو څخه اوپراتیفي فصلونو ته تعدیل مجاز نه دي.
10. د بودجي د اجراء، تعدیل او یا ورکړي په اړه یواځي د وزراتونو او اړونده ادارو چارواکي کولاي شي چې د مالیي وزارت له چارواکو سره اړیکي ونیسي. هیڅ یو تړون کوونکي حق نلري چې نیغ په نیغه د مالیي وزارت سره اړیکي ټینګي کړي، مګر پرته له هغه رسمی حالاتو چې دواړه وزارتونه یی اړین وګڼي.
11. هر هغه نوی قانون او یا مقرره چې د ملکي او یا نظامي مامورینو په معاشونو، حقوقو او یا امتیازاتو کي د زیاتوالي، د تشکیل زیاتوالی او یا هم مالی او مصرفی اغیزمنتوب پکښی نغښتی وی چې د دي سند (ملي بودجي) سره سمون و نلري، د اجرا وړ نه دي. په هغه صورت کي چې کوم نوي قانون او یا لایحه تصویب شي، د امتیازاتو او حقوقو او نوی لګښتونو اجرا کول به د اړوندی اداری د مالی ارزونی او د مالیي وزارت د مالي معینیت لخوا د وړاندیز د تایید څخه وروسته په راتلونکي مالي کال کي په پام کي نیول کیږي.
12. وزارتونه او اداري مکلفي دي چې خپل تشکیلونه د مرکز او ولایتونو په تفکیک د تشکیلاتو د کمیسیون لخوا د تایید شوي سقف سره سم چمتو کړي او د مالي کال په اوږدو کي باید د تشکیل د هر ډول زیاتوالي څخه په جدي توګه ډډه وکړي.
13. د دولت ټول کارکونکي (لوړ رتبه او ټیټ رتبه) نشي کولای چې په رسمي وخت کي په یوه وخت کي له دوه مرجعو څخه معاش تر لاسه کړي.

14. ساختماني قراردادونه باید د کاري حجمونو د اټکل له مخې نه بلکه د یوه ثابت قیمت پر بنسټ تر سره شي.

15. د ساختماني کارونو په قراردادونو کې د کار د پیل څخه د مخه د هر ډول اضافه کارۍ لپاره د پروژې د بسپنه ورکونکی سره (د اختیاري بسپنو په صورت کې د مالیي وزارت د بودجې د لوي ریاست هوکړه) کتبي هوکړه اړینه ده.

16. د لګښتونو په اجرا کې باید د تداراکاتو د قانون لارښودټکو، د تدارکاتو د کړنلارۍ لارښودټکو او د مالیي وزارت متحدالمالونو ته په جدي توګه پاملرنه وکړل شي.

17. د مالیي وزارت د قانون له مخې د تدارکاتو د کړنلارو او پالیسیو د رامنځته کولو مسؤولیت په غاړه لري. هر ډول شکایت او معلومات باید په لومړي پړاو کې د اړونده مراجعو څخه د تدارکاتو د پالیسۍ څانګې ته چې په نوموړي وزارت کې موقعیت لري وړاندې شي، تر څو نوموړې اداره د تدارکاتو د قانون په چوکاټ کې د نوموړي شکایت په باب اړین مالومات او لارښوونې وړاندې او اجراآت تر سره کړي.

18. د مالیي وزارت او د تدارکاتو څانګړې کمیټه نشي کولای چې قراردادونه د څرګندو او معقولو لاملونو پرته د 21 کاري ورځو څخه زیات له ځان سره و ځنډوي، له دې پرته د تدارکاتو د قانون سره سم اجراآت تر سره شي.

19. د مالیي وزارت باید په 7 کاري ورځو کې هرې موضوع او هر مکتوب ته چې نوموړي وزارت ته راجع کیږي، لازم ځواب ووایي.

20. اړونده وزارتونه په بشپړه توګه د پروژو د کیفیت، په خپل وخت باندې د پروژو د پلي کولو او د تدارکاتو په ګډون د هغه مسایلو په اړه د راپور ورکولو مسؤولیت په غاړه لري چې د مرستندویه هیوادونو د مرستو په کارولو کې مثبت بدلونونه رامنځته کوي.

21. د بودجې کمیټه باید لږ تر لږه په میاشتي کې یو ځل غونډه جوړه کړي تر څو د هغو پرمختیایي پروژو په اړه پریکړې تر سره کړي چې د احتیاطي بسپنو د لست څخه پرمختیایي پروژو ته د انتقال ټول معیارونه پوره کړي وخیړل شي او په اړه یې پریکړې ترسره شي.

22. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو په جدول کې د مندرجو معاشونو څخه پرته د متفرقه کوډونو څخه د هر ډول معاشونو او امتیازاتو هوکړه د مالیي وزارت صلاحیت دی.

23. هغه پروژې چې د دوه کلونو په تیریدو سره یې هیڅ ډول پرمختګ نه وي کړې، د بودجې کمیټې ته له وړاندې کیدو وروسته په سملاسي توګه د لست څخه ایستل کیږي، مګر داچې د نه پرمختګ او یا د لږ پرمختګ لپاره قانع کوونکي دلایل وړاندې کړي.

24. لکه څنګه چې پرمختیایی بودجه د اختیاري او غیر اختیاري بسپنو څخه جوړه شوې ده، او د کال په پیل او نیمایي کې د ملي شورا لخوا تصویبیږي، خو د اختیاري پروژو د تمویل پریکړه د افغانستان د اسلامي جمهوریت واک او د غیر اختیاري پروژو د تمویل پریکړه د مرستندویانو له واکونو څخه دي. په همدې توګه که چیرې د مالي کال په بهیر کې غیر اختیاري بسپنې وموندل شي نو د مالیي وزارت کولای شي چې د هغو پرمختیایي پروژو د بودجې سره ضمیمه یا مل کړي چې د ولسي جرګې له خوا تصویب شوې وي. د یادولو وړ ده هغه نوې غیر اختیاري پروژې چې د مالي کال په اوږدو کې د بسپنه ورکونکو له خوا ژمنه شوې وي د کابینې د منظوري څخه وروسته باید د بودیجې په سند کې ځا پر ځای شي، د عادي بودجې ضمیمه چې د مرسته کوونکو لخوا د مالي کال په بهیر کې چې د اختیاري او غیر اختیاري بسپنو په شکل د مالیي وزارت په واک کې ورکړل شي د موجه اړتیا او د جمهوري ریاست د عالي مقام د لارښود پربنسټ د اجرا وړ ده.

25. که چیرې د مالي کال په اوږدو کې د پلان شوي عوایدو په پرتله راغونډ شوي عوایدزیات وي او یا د تیرو کلونو د ذخیره شوي اختیاري بودجې په صورت کې، د مالیي وزارت کولای شي چې د عوایدو هغه اضافي برخه د منظور شوي پراختیایي بودجې د کسر د تمویل لپاره وکاروي.

26. په خپل وخت باندې د منظورې شوې بودجې د پلي کولو او د هغې څخه په اغیزمنه توګه د ګټې اخیستلو په موخه، هغه پروژې چې د بودجوي واحدونو لخوا وړاندې کیږي باید په لومړي ګام کې د تیارۍ سره تړلي موضوعات بشپړ شي، لکه: د اسنادو ترتیبول، د ځمکې او جایداد برابرول، عملي څیړنه، د لګښتونو اټکل او د قرارداد له مخې د پروژې د بشپړتیا د نیټې سره سم پروژه بشپړ، او وروسته له دې د تمویل په برخه کې ګامونه پروته شي.

27. د ادارو د پرمختیایی بودجې په اړه: هره اداره باید د پروژو په پلان جوړونه کې د ډیرې پاملرنې څخه کار واخلي، د کره مطالعې او د پروژو د جوړولو څخه وروسته دې د مالیي وزارت څخه د بسپنو غوښتنه وکړي. د یادولو وړ ده چې د پرمختیایی بودجې د اجرا پر مهال باید د مالي چارو او عامه لګښتونو د تنظیم مقرره، د تدارکاتو قانون او د بودجې کړنلارې ته جدي پاملرنه وشي.

28. د مالي چارو په باب هر راز اړیکې چې د بودجوي واحدونو او مرستندویانو تر منځ ټینګیږي باید د مالیي وزارت هم په جریان کې و اوسي.

29. د لوړو زده کړو، د علومو اکادمي، او د زده کړو د نورو مؤسسو ښوونکي چې په نورو بودجوي واحدونو، تصدیو او دولتي ادارو کې په کار ګمارل شوي وي، د علمي کادر له امتیاز څخه ګټه نشي پورته کولای.

30. اداري نشي کولای چې د مرستندویانو د شفاهی ژمنو پربنسټ تړون وکړي، په دې اړه د بسپنه ورکولو لپاره لیکلي ژمنه اړینه ده او دا عمل د مالیی وزارت د موافقی وروسته ترسره کیږي.

31. په هیواد کی ټول تړونونه او د پیسو راکړه ورکړه باید په افغانیو تر سره شي. هغه تړونونه او د پیسو ورکړې چې له هیواد څخه بهر ترسره کیږي، له دې امر څخه مستثنی دي. او په قراردادونو کی یوازی یو ډول اسعار وکارول شي.

32. ټولې اداري او بودجوي واحدونه دنده لري ترڅو د خپلو اجراآتو راپور د مالیي وزارت د لارښود سره سم د دوو اونیو په اوږدو کی د هری ربعی د ختمیدو وروسته په ربعوار ډول د مالیي او اقتصاد وزارتونو ته وسپاري. د مالیی وزارت دنده لري تر څو د نوموړو راپورونو د تر لاسه کولو څخه وروسته په راتلونکو دوو اونیو کې یو توحیدي راپور بشپړ او د ولسي جرګې مالي او بودجوي کمیسیون ته ولیږي.

33. 1392 مالي کال د 1391 کال د مرغومي میاشتي د لومړۍ نیټې څخه پیل او د 1392 کال د لیندۍ د میاشتي تر 30 نیټې پورې دوام کوي.

34. د اساسي قانون د ۹۸ مادې او د مالي چارو او عامه لګښتونو د قانون د یو څلویښتمې مادې د دویمې فقرې پربنسټ د پرمختیاي پروژو په وخت پلي کولو او د پرمختیاي بودجې د لګښتونو د لوړولو و او نړیوالې ټولنې دمرستو لاسته راوړلو په موخه د ملي بودجې په سند د شته انتقالي پروژو بسپنې د ملي بودجې تر منظور پورې د اجرا وړدي.

35. د 1392 کال پرمختیایی بودجه په دوه برخو ویشل شوې ده (انتقالي او نوی بودجه)، چه انتقالي بودجه د لګښتونو پر بنسټ د 1391 کال د وري د میاشتي د لومړۍ نیټې څخه د تلې د میاشتي تر 15 نیټې پورې اټکل او محاسبه شوې دي. د دې لپاره چې د 1391 کال د بودجې لګښتونه د 1391 کال د لیندۍ د میاشتي تر پاې پورې ادامه لري، په دی ترتیب رښتیني انتقالي بودجه د قطعیې د جوړولو څخه وروسته پای ته رسیږي.

36. ټولې هغه اداري چې د ملي بودجې له لارې مالي بسپنې تر لاسه کوي، مکلف دي چې نوموړې منظور شوی پیسې (پرمختیایی بودجه) مصرف کړي او د نوموړو لګښتونو په اړه ولسي جرګې ته ځواب ووایي، خو د ستونزو د شتون په صورت کې باید د هغوې د هوارولو لپاره د مالیي وزارت سره په کتبي ډول اړیکي ونیسي.

37. د پرمختیایي بودجې د کسر او د جمهوري ریاست د 1391 کال د 45 فرمان پر بنسټ چې د ملکي مامورینو او د پروژو د مامورینو د معاشونو تر منځ ډیر توپیر شتون لری، د پرمختیایي پروژو د هغه کارمندانو تنخواګانی چې د 50000 افغانیو څخه زیاتی وي، په 1392 کال کی د 1391 مالي کال د مرغومي د میاشتي د پیل څخه به 5٪ کموالي مومی.

38. په 900001 (د پالیسي اړوند بسپنې) او 900009 (د بیړنیو حالاتو لپاره احتیاطي بسپنې) کوډونو کې تعدیل، تنقیص او زیاتوالي د افغانستان د اسلامی جمهوري ریاست د مقام واک دې، او د پاتې نورو عادی او پرمختیایی بودجی کوډونو واک او صلاحیت د مالیي وزارت پورې اړه لري.

39. د تیرو کلونو طلبات د 1392 مالي کال په بودجه کې شامل نه دي، له همدې امله باید ټول بودجوي واحدونه ټول بودجوي لګښتونه د همغه کال د بودجې څخه اجرا او د کال د پای ته رسیدو د مخه باید حسابونه تصفیه کړي. که نه نو د بودجی د لوی ریاست لیکلی موافقه اړین ګڼل کیږی.

40. ټولې اداري مکلفیت لري چې د امکان تر بریده د پرمختیایي بودجې څخه د تنخواګانو او امتیازاتو د ورکړی څخه ډډه وکړي. د پرمختیایي بودجې څخه د عملیاتي لګښتونو او معاشونو د اجرا په موخه د مالیي وزارت لیکلی هوکړه حتمي او لازمي ده.

41. ټولې اداري مکلفیت لري تر څو د 1391 کال د وزیرانو د شورا د 27 مصوبې سره سم د دوه ګوني تشکیل په را کمولو کې چې PIU، PMU او GMU رانغاړي، اجراآت تر سره کړي. البته هغه اجراآت او مسؤولیتونه چې د نوموړې څانګې لخوا تر سره کیږي، باید د اړوندو ریاستونو په کاري پلان کې شامل کړای شي. اداري مکلفیت لري تر د تشکیلاتو لپاره د ظرفیتونو د جذب په موخه خپل ځانګړي وړاندیزونه او پروپوزلونه د مالیي وزارت او د اداري اصلاحاتو کمیسیون ته وړاندې کړي.

42. د مالیي وزارت واک لري چې د لزوم او د اړتیا په وخت کې د اړتیا وړ بسپنې د پرمختیاي بودجې نه عادی پودجې ته او همدا رنګه د عادی بودجې نه پرمختیاي بودجې ته ولیږدوي.

لومړي جدول - د 1392 کال ملي بودجه

سکتور - وزارت	ارقام په 000						د مجموعي بودجې سلنه
	عادي بودجه		پرمختيايي		مجموعه		
	افغانی	ډالر	افغانی	ډالر	افغانی	ډالر	
1- د امنيت سکتور	**112,024,682**	**2,154,321**	**33,090,371**	**636,353**	**145,115,053**	**2,790,674**	**39.6%**
د ملي امنيت لوی رياست	9,792,726	188,322	161,918	3,114	9,954,644	191,435	2.7%
د ملي دفاع وزارت	**57,107,539**	**1,098,222**	**21,514,029**	**413,731**	**78,621,567**	**1,511,953**	**21.5%**
د افغانستان د حکومت لخوا تمويل	13,278,273	255,351	-	-	13,278,273	255,351	3.6%
بهرنی مرستي	43,829,265	842,870	-	-	43,829,265	842,870	12.0%
د بهرنيو چارو وزارت	2,650,000	50,962	602,704	11,590	3,252,704	62,552	0.9%
د کورنيو چارو وزارت	41,601,273	800,024	10,590,285	203,659	52,191,558	1,003,684	14.3%
د افغانستان د دولت لخوا تمويليږي	8,340,210	160,389	-	-	8,340,210	160,389	2.3%
بهرني مرستي	33,261,062	639,636	-	-	33,261,062	639,636	9.1%
د ولسمشر د ساتنې رياست او د ملي امنيت شورا	873,145	16,791	221,435	4,258	1,094,580	21,050	0.3%
2- د واکمنی ،د قانون د حاکميت او بشري حقونه سکتور	**11,086,398**	**213,200**	**4,432,554**	**85,241**	**15,518,952**	**298,441**	**4.2%**
د چارو عمومي رياست او د وزيرانو د شورا دارلانشاء	724,395	13,931	327,733	6,303	1,052,128	20,233	0.3%
د اداري درغليو په وړاندي د مبارزي عالي اداره	133,018	2,558	98,371	1,892	231,389	4,450	0.1%
د دولت د رياست دفتر	1,717,268	33,024	606,501	11,663	2,323,769	44,688	0.6%
د سيمه ايزو ارګانونو خپلواکه اداره	2,468,351	47,468	1,215,323	23,372	3,683,674	70,840	1.0%
ستره محکمه	1,319,787	25,381	340,943	6,557	1,660,730	31,937	0.5%
ملي شورا، مشرانو جرګه	522,159	10,042	136,870	2,632	659,029	12,674	0.2%
ملي شورا، ولسي جرګه	1,215,167	23,369	28,485	548	1,243,652	23,916	0.3%
لوی څارنوالی	1,017,058	19,559	237,909	4,575	1,254,967	24,134	0.3%
د حج،ارشاد او اوقافو وزارت	742,723	14,283	337,474	6,490	1,080,197	20,773	0.3%
په پارلماني چارو کې د دولت وزارت	88,868	1,709	-	-	88,868	1,709	0.0%
د عدلي وزارت	606,377	11,661	417,847	8,036	1,024,224	19,697	0.3%
د اداري اصلاحاتو او د ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون	321,909	6,191	592,579	11,396	914,488	17,586	0.2%
د ټاکنو خپلواک کميسيون	127,042	2,443	20,568	396	147,610	2,839	0.0%
د اساسي قانون پر پلي کولو د څار خپلواک کميسيون	82,276	1,582	-	-	82,276	1,582	0.0%
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون	-	-	71,952	1,384	71,952	1,384	0.0%

سکتور ـ وزارت	عادي بودجه		پرمختیايي		مجموعه		د مجموعي بودجې سلنه
	افغانی	دالر	افغانی	دالر	افغانی	دالر	
3 ـد زیربناوو او طبیعی زیرمو سکتور	**3,232,672**	**62,167**	**54,032,895**	**1,039,094**	**57,265,568**	**1,101,261**	**15.6%**
د جیودوزي او کارتوګرافي ریاست	147,250	2,832	192,504	3,702	339,754	6,534	0.1%
د چاپیریال ساتنې ملي اداره	170,000	3,269	74,152	1,426	244,152	4,695	0.1%
د ښار جوړولو چارو وزارت	249,500	4,798	1,315,808	25,304	1,565,308	30,102	0.4%
د اوبو او انرژی وزارت	545,000	10,481	14,413,144	277,176	14,958,144	287,657	4.1%
د ترانسپورټ او ملکي هوانوردی وزارت	536,500	10,317	2,040,587	39,242	2,577,087	49,559	0.7%
د تولګټو وزارت	533,650	10,263	25,850,390	497,123	26,384,040	507,385	7.2%
د مخابراتو وزارت	503,482	9,682	2,512,016	48,308	3,015,498	57,990	0.8%
د کانونو وزارت	511,000	9,827	2,413,806	46,419	2,924,806	56,246	0.8%
د افغانستان د اتومي انرژي عالي کمیسیون	36,290	698	-	-	36,290	698	0.0%
بورد مستقل کابل جدید	-	-	273,728	5,264	273,728	5,264	0.1%
دافغانستان برشنا شرکت	-	-	2,950,584	56,742	2,950,584	56,742	0.8%
د کابل ښاروالي	-	-	1,372,592	26,396	1,372,592	26,396	0.4%
د اوبو رسولو او کانالیزیسیون شرکت	-	-	623,584	11,992	623,584	11,992	0.2%
4 ـ د پوهنی سکتور	**34,049,781**	**654,803**	**21,206,564**	**407,819**	**55,256,345**	**1,062,622**	**15.1%**
د علومو اکادمي	156,008	3,000	48,432	931	204,440	3,932	0.1%
د اطلاعاتو او کلتور وزارت	837,002	16,096	583,969	11,230	1,420,971	27,326	0.4%
د لوړو زده کړو وزارت	3,190,787	61,361	4,312,277	82,928	7,503,063	144,290	2.0%
د پوهنې وزارت	29,591,973	569,076	15,479,330	297,679	45,071,303	866,756	12.3%
د ښوونځیو حفظ او مراقبت	657,023	12,635	-	-	657,023	12,635	**0.2%**
د بدني روزنې او سپورټ ریاست	274,012	5,269	782,556	15,049	1,056,568	20,319	0.3%
5 ـ د روغتیا سکتور	**3,395,852**	**65,305**	**10,534,246**	**202,582**	**13,930,097**	**267,886**	**3.8%**
د عامي روغتیا وزارت	3,395,852	65,305	10,534,246	202,582	13,930,097	267,886	3.8%
په مرکز کې د کلینیکونو حفظ او مراقبت	451,151	8,676	-	-	451,151	8,676	0.1%
6 ـ د کرهنې او کلیو د پراختیا سکتور	**2,036,461**	**39,163**	**33,219,781**	**638,842**	**35,256,242**	**678,005**	**9.6%**
د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت	604,114	11,618	24,500,228	471,158	25,104,342	482,776	6.9%
د کرهنې اوبه لګولو او مالداری وزارت	1,291,539	24,837	7,741,738	148,880	9,033,277	173,717	2.5%
د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې وزارت	140,808	2,708	977,815	18,804	1,118,623	21,512	0.3%

سکتور ـ وزارت	عادي بودجه		پرمختیايي		مجموعه		د مجموعي بودجی سلنه
	افغانی	ډالر	افغانی	ډالر	افغانی	ډالر	
7 ـ د ټولنیز مصؤنیت سکتور	**2,315,554**	**44,530**	**1,210,158**	**23,272**	**3,525,712**	**67,802**	**1.0%**
له طبیعي پیښو سره د مبارزې لپاره د چمتووالي ملي اداره	97,753	1,880	72,715	1,398	170,468	3,278	0.0%
د کوچیانو د چارو د همغږي کولو ریاست	45,619	877	53,782	1,034	99,401	1,912	0.0%
د ښځو د چارو وزارت	178,794	3,438	55,795	1,073	234,590	4,511	0.1%
د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت	402,385	7,738	244,719	4,706	647,104	12,444	0.2%
د کډوالو او بیا را ستنیدونکو د چارو وزارت	205,219	3,947	82,800	1,592	288,019	5,539	0.1%
دکار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت	1,385,784	26,650	700,346	13,468	2,086,130	40,118	0.6%
8 ـ د اقتصادي چارو د اداری او د خصوصي سکتور د پراختیا سکتور	**2,787,661**	**53,609**	**7,291,003**	**140,212**	**10,078,664**	**193,820**	**2.8%**
د افغانستان د نورم او استندرد ملي اداره	70,275	1,351	268,924	5,172	339,199	6,523	0.1%
د مرکزي احصائیي اداره	142,000	2,731	186,828	3,593	328,828	6,324	0.1%
د کنترول او تفتیش اداره	120,000	2,308	440,111	8,464	560,111	10,771	0.2%
د اقتصاد وزارت	252,386	4,854	518,013	9,962	770,399	14,815	0.2%
د سوداگری او صنایعو وزارت	367,000	7,058	513,233	9,870	880,233	16,928	0.2%
د مالیي وزارت	1,836,000	35,308	5,269,449	101,336	7,105,449	136,643	1.9%
په افغانستان کي د وړو تمویلي سرچینو د ملاتړ له پاره د اسانتیاوو برابر	-	-	42,446	816	42,446	816	0.0%
د خصوصي پانګونو د ملاتړ اداره	-	-	52,000	1,000	52,000	1,000	0.0%
د سکتورونه مجموعه	**170,929,061**	**3,287,097**	**165,017,573**	**3,173,415**	**335,946,634**	**6,460,512**	**91.7%**
متفرقه او احتیاطي کوډونه	**25,278,406**	**486,123**	**5,010,256**	**96,351**	**30,288,662**	**582,474**	**8.3%**
عمومي مجموعه	**196,207,467**	**3,773,221**	**170,027,829**	**3,269,766**	**366,235,296**	**7,042,986**	**100.0%**

یادونه: د پرمختیايي بودجی د انتقالي پروژو ارقام د 1391لمریز کال د نهو میاشتو د لګښتونو پرښنسټ چمتو شوي دي خو نهایی ارقام د کال د پای پوری د تغیر له امله د قطعیی د حسابونو له بشپړیدو وروسته چمتو کیږي.

2جدول- د 1392 مالي کال د بودجې لنډيز او د تمويل سرچينې

شميره	اقلام	د 1392 مالی کال	
		په (000) امريکايی ډالرو	په (000) افغانيو
I -	د منابعو مجموعه	6,799,193.40	353,558,056.81
	مجموع بودجه	7,042,986.46	366,235,295.77
	د پورونو له ورکړې وروسته د ملي بودجې کسر	(243,793.06)	(12,677,238.96)
-II	د عادي بودجې ټولې سرچينې	3,736,167.40	194,280,704.68
	د عادي بودجې مجموعه	3,773,220.51	196,207,466.68
	د عادي بودجې کسر	(37,053.12)	(1,926,762.00)
III -	د پرمختيايي بودجې ټولې سرچينې	3,063,026.00	159,277,352.13
	ټوله پرمختيايي بودجه	3,269,765.94	170,027,829.09
	د پرمختيايي بودجې کسر	(206,739.94)	(10,750,476.96)
	د 1391 مالي کال د پرمختيايي بودجې کسر يا کموالې	(191,729.29)	(9,586,464.50)
	د 1392 مالي کال د نوی پرمختيايي بودجې کسر	(15,010.65)	(1,164,012.46)

يادونه : 1392 مالي کال د 1391 کال د مرغومي د لومړي نيټې څخه پيل او د 1392 هجري لمريز کال د لیندۍ تر پای پورې دوام کوي

دریم جدول- د 1392 مالی کال د ملی بودجی لنډیز د تمویلی منابعو سره

تفصیلات	په (000) امریکایی ډالرو	په (000) افغانیو	سلنه
1: د 1392 مالي کال د ملي بودجي لنډيز د هغه د تمويل د سرچينو سره			
الف: د ملی بودجی د تمویل سرچینی			
1 : کورنی سرچینی	2,598,411.01	135,117,372.60	**37%**
2 : بهرنی سرچینی	4,200,782.39	218,440,684.21	**60%**
د تمویل ټولي سرچینی	**6,799,193.40**	**353,558,056.81**	
ب: ملي بودجه			
1 : عادي بودجه	3,773,220.51	196,207,466.68	**54%**
2 :پرمختيايي بودجه	3,269,765.94	170,027,829.09	**46%**
د ملی بودجی مجموعه	**7,042,986.46**	**366,235,295.77**	
د ملي بودجی کسر یا کموالی	**(243,793.06)**	**(12,677,238.96)**	**-3%**
II: د 1392 مالي کال عادي بودجه			
ټوله عادي بودجه	**3,773,220.51**	**196,207,466.68**	
د عادي بودجي د تمويل سرچيني			
1 : کورني عوايد	2,063,011.68	107,276,607.52	**55%**
2 : په عادي بودجي کي د تمويل کوونکو مرسته	1,673,155.71	87,004,097.16	**44%**
د عادي بودجي ټولي سرچيني (1-2)	**3,736,167.40**	**194,280,704.68**	
د عادي بودجي کسر	**(37,053.12)**	**(1,926,762.00)**	
III: د 1392 مالي کال پرمختيايي بودجه			
تفصیلات	**(000) دالر امریکائی**	**(000) افغانی**	
الف: د اختياري پروژو بودجه	**982,799.23**	**51,105,559.96**	**30%**
الف : نوي اختياري	544,487.05	28,313,326.60	17%
ب : انتقالي اختياري	438,312.18	22,792,233.36	13%
ب: د غير اختياري پروژو بودجه	**2,286,966.71**	**118,922,269.13**	**70%**
ج : نوي غير اختياري	1,449,105.36	75,353,478.93	44%
د : غير اختياري انتقالي	837,861.35	43,568,790.20	26%
ټولي پرمختيايي پروژي(اختياري+غير اختياري)	**3,269,765.94**	**170,027,829.09**	
د پرمختيايي بودجي د تمويل سرچيني			
1 : کورنی سرچینی	535,399.33	27,840,765.08	16%
2 : د مرستندويانو د مرستو مجموعه (اختيارى)	240,660.00	12,514,320.00	7%
3 : د مرستندويانو د مرستو مجموعه (غير اختيارى)	2,230,524.57	115,987,277.38	68%
د تمويل د سرچينو مجموعه(1+2+3)	**3,006,583.89**	**156,342,362.46**	**92%**
د پورونو د تمويل څخه د مخه د پرمختيايي بودجي کسر	**(263,182.05)**	**(13,685,466.63)**	
پور*	56,442.11	2,934,989.67	
د پورونو د تمويل څخه وروسته د 1392 کال د بودجی کسر	**(206,739.94)**	**(10,750,476.96)**	
د 1391 مالی کال د پرمختيايي بودجي کسر	**(191,729.29)**	**(9,586,464.50)**	
د 1392 مالی کال د نوي پرمختيايي بودجي کسر	**(15,010.65)**	**(1,164,012.46)**	

یادونه:

1- 1- په 1392 لمریز مالي کال کي د یو ډالر بیه 52 افغاني په پام کي نیول شوي ده.

2- * مبلغ 56.442 میلیونه امریکایي ډالره په پخوانیو کلونو کي د پرمختیایي پروژو د تمویل لپاره پور اخیستل شوی دی او په پخوانیو بودجو کي شامل او تصویب شوی دی.د 1392 مالي کال د بودجي په سند کي کوم نوي پور په پام کي نه دی نیول شوي.

3- د 1392 مالي کال په پرمختیایي بودجه کي 206.739 میلیونه امریکایي ډالره کسر وجود لري چي دا په نوی او انتقالي پروژو کي ؤ، خو په انتقالي پروژو کي حقیقي کسر او ارقام د 1391 لمریز کال د قطعیي له بشپړیدو وروسته څرګندیږي.

څلورم جدول- د 1392 مالی کال د ملی بودجی د منابعو تفصیل

1- تفصیل منابع تمویل بودجه عادی

اقلام	مالي کال 1392	
	ارقام په (000) امریکانی ډالرو	په (000) افغانیو
د عادی بوجی د تمویلی منابعو مجموعه	**3,736,167.4**	**194,280,704.7**
1- کورني عواید	2,063,011.7	107,276,607.5
2- د خارجي تمویل سرچینی	**1,673,155.7**	**87,004,097.2**
د افغانستان د بیارغونی امانتي صندوق	150,000.0	7,800,000.0
د افغانستان د بیارغونی امانتی صندوق(حفظ او مراقبت)	21,311.0	1,108,174.00
د افغانستان د نظم او قانون امانتي صندوق	490,268.0	25,493,936.0
د افغانستان له دفاع وزارت سره د امریکا د دفاع وزارت مرستي (CSTC-A)	846,716.6	44,029,264.9
د افغانستان د کورنیو چارو د وزارت سره د امریکا د دفاع وزارت مرستي (CSTC-A)	149,367.8	7,767,124.7
د ولسوالیو په کچه د خدمتونو د تر سره کولو په برخه کي د فرانسي، ډنمارک او بریتانیه مرستي	15,492.3	805,597.5

2- د پرمختیایي بودجي د تمویل د سرچینو تفصیل

سرلیک	ارقام په (000) امریکانی ډالرو		مجموعه	
	انتقالي	نوی	په(000) ډالرو	په (000) افغانیو
د پرمختیایي بودجي د سرچینو مجموعه (I+II)	**1,041,461.1**	**1,965,122.8**	**3,006,583.9**	**156,342,362.5**
I- کورنی سرچینی	**187,122.6**	**348,276.8**	**535,399.3**	**27,840,765.1**
1- د کورنیو عوایدو برخه	-	193,276.8	193,276.8	10,050,392.5
2- د تیلو د حق العبور عواید	-	60,000.0	60,000.0	3,120,000.0
3- د ریل د لیکي یا پټلی عواید	-	40,000.0	40,000.0	2,080,000.0
4- د تیر کال زیرمه شوي عواید(کورني عواید)	-	5,000.0	5,000.0	260,000.0
5- د عینک د مسو شتمنی(د تمویل سرچینی د عینک د مسو د تړون نه)	-	50,000.0	50,000.0	2,600,000.0
6- د 1391 کال انتقالي سرچینی (کورني عواید)	187,122.6	-	187,122.6	9,730,372.6
II- بهرنی سرچینی (بهرنی وړیا مرستي)	**854,338.6**	**1,616,846.0**	**2,471,184.6**	**128,501,597.4**
1 - اختیاری	**60,000.0**	**180,660.0**	**240,660.0**	**12,514,320.0**
1- د افغانستان د بیارغونی د هڅونی امانتي صندوق	30,000.0	150,000.0	180,000.0	9,360,000.0
نړیوال بانک (DPG)	30,000.0	20,000.0	50,000.0	2,600,000.0
د افغانستان د بیارغونی امانتی صندوق(حفظ او مراقبت)	-	10,660.0	10,660.0	554,320.0
غیر اختیاري	**794,338.6**	**1,436,186.0**	**2,230,524.6**	**115,987,277.4**
نړیوال بانک	133,419.6	141,793.6	275,213.2	14,311,085.9
جاپان	19,249.2	2,956.0	22,205.2	1,154,671.4
د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام	22,497.8	8,200.0	30,697.8	1,596,286.1
د ملګرو ملتونو تعلیمي، علمي او کلتوري سازمان (یونسکو)	3,279.7	2,298.5	5,578.2	290,065.0
د کډوالو په چارو کي د ملګرو ملتونو عالي کمشنري	852.9	-	852.9	44,350.8
د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ماموریت	104.1	-	104.1	5,410.6
د ښوني او روزني لپاره د نړیوال مشارکت پروګرام/یونسف	9,000.0	14,616.0	23,616.0	1,228,032.0
د افغانستان د بیا رغونی امانتی صندوق	280,713.7	380,730.0	661,443.7	34,395,073.4
د سولي او بیا یو ځای کیدو امانتی صندوق	14,481.7	7,510.0	21,991.7	1,143,570.5
المان	-	1,700.0	1,700.0	88,400.0
ایتالیا	28,875.9	15,600.0	44,475.9	2,312,746.8
د امریکا متحده ایالتونه	45,619.0	77,850.0	123,469.0	6,420,388.0
د افغانستان لپاره د امنیت د سپارلو ګډه قوماندانی - سیستکا	-	605,548.8	605,548.8	31,488,539.2
اسلامي پرمختیایي بانک	800.0	-	800.0	41,600.0
د آسیا پرمختیایی بانک	169,054.4	136,750.0	305,804.4	15,901,827.3
برونای دار السلام	1,580.4	-	1,580.4	82,181.3
بریتانیا	643.6	614.0	1,257.6	65,395.2
د چک جمهوریت	92.1	99.7	191.8	9,972.6
ډنمارک	24,177.7	20,510.0	44,687.7	2,323,759.9
نیو زیلنډ	190.4	-	190.4	9,898.2
د کرهنی د پراختیا نړیوال سازمان	3,157.0	5,000.0	8,157.0	424,163.5
سویس	164.0	-	164.0	8,527.5
سعودي عربستان	-	-	-	-
فرانسه	9,892.1	8,080.4	17,972.5	934,567.9
کانادا	14.5	-	14.5	751.9
لتوانیا	103.1	-	103.1	5,362.2
د معافیت او واکسین لپاره سراسري اتحاده	3,166.3	2,000.0	5,166.3	268,646.0
د قراقستان حکومت	450.0	-	450.0	23,399.5
د نظم او قانون امانتي صندوق	450.9	-	450.9	23,445.2

سرلیک	ارقام په (000) امریکانی ډالرو		مجموعه	
	انتقالي	نوی	په(000) ډالرو	په (000) افغانیو
د ناروغیو د کنترول او مخنیوي مرکز	920.7	-	920.7	47,874.8
د جاپان غیر پروژوي وړیا مرستي	-	3,500.0	3,500.0	182,000.0
گلوبل فنډ(نریوال صندوق)	9,532.8	-	9,532.8	495,703.5
ناروی	2,379.0	622.0	3,001.0	156,054.1
هالنډ	532.7	-	532.7	27,700.4
هندوستان	7,539.5	207.0	7,746.5	402,818.5
چین	1,404.0	-	1,404.0	73,008.0
III- پورونه	**43,522.1**	**12,920.0**	**56,442.1**	**2,934,989.7**
1- د آسیا پرمختیايي بانک	5,311.1	7,920.0	13,231.1	688,018.2
2- اسلامي پرمختیايي بانک	24,029.0	-	24,029.0	1,249,507.5
3- د سعودي عربستان پرمختايي صندوق	14,182.0	5,000.0	19,182.0	997,464.0

پینځم جدول - د 1392 مالی کال عادي بودجه

ارقام په 000 افغانیو

سکتور - وزارت	د 1392 کال عادي بودجه په 000 افغانیو					
	مزد او معاشونه - 210	توکي او خدمتونه - 220	د شتمنیو تر لاسه کول - 250	مجموعه	د عادي بودجې په مجموعه کي د ونډې سلنه	تشکیل 1392
1 - -د امنیت سکتور	**95,531,731**	**15,125,274**	**1,367,677**	**112,024,682**	**57.1%**	**452,428**
د ملي امنیت لوي ریاست	8,017,726	1,750,000	25,000	9,792,726		40,741
د ملي دفاع وزارت	**48,983,241**	**7,842,345**	**281,952**	**57,107,539**		202,886
د افغانستان د حکومت لخوا تمویل	12,493,773	630,500	154,000	13,278,273		
بهرنی مرستي	36,489,468	7,211,845	127,952	43,829,265		
د بهرنیو چارو وزارت	1,367,000	1,253,000	30,000	2,650,000		1,389
د کورنیو چارو وزارت	**36,482,979**	**4,107,569**	**1,010,725**	**41,601,273**		205,854
د افغانستان د دولت لخوا تمویلیږي	7,032,345	1,197,865	110,000	8,340,210		
بهرني مرستي	29,450,633	2,909,704	900,725	33,261,062		
د ولسمشر د ساتنې ریاست او د ملي امنیت شورا	680,785	172,360	20,000	873,145		1,558
2 - د وحکومتداری ،د قانون د حاکمیت او بشري حقونو سکتور	**7,559,694**	**2,873,004**	**653,700**	**11,086,398**	**5.7%**	**40,505**
د چارو د اداری او د وزیرانو د شورا دارالانشا	389,134	320,261	15,000	724,395		1,422
د اداري فساد پر وړاندي د مبارزې د ستراتیژۍ پر پلي کولو د څار اداره	89,020	37,998	6,000	133,018		473
د دولت د ریاست دفتر	1,141,330	523,238	52,700	1,717,268		3,868
د سیمه ایزو ارګانونو خپلواک اداره	1,209,616	808,735	450,000	2,468,351		7,241
ستره محکمه	1,073,852	220,935	25,000	1,319,787		6,841
مشرانو جرګه (ملي شورای)	415,159	67,000	40,000	522,159		1,090
ملي شورای، ولسي جرګه	1,048,167	143,500	23,500	1,215,167		3,011
لوی څارنوالي	863,828	143,230	10,000	1,017,058		5,090
د حج،ارشاد او اوقافو وزارت	506,733	230,990	5,000	742,723		7,044
په پارلماني چارو کي د دولت وزارت	54,149	33,219	1,500	88,868		239
د عدلیي وزارت	438,943	157,434	10,000	606,377		2,943
د اداري اصلاحاتو او د ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون	210,973	105,936	5,000	321,909		723
د ټاکنو خپلواک کمیسیون	80,586	44,456	2,000	127,042		405
د اساسي قانون پر پلي کولو د څار خپلواک کمیسیون	38,204	36,072	8,000	82,276		115

سکتور - وزارت	د 1392 کال عادي بودجه په 000 افغانیو					
	مزد او معاشونه - 210	توکي او خدمتونه - 220	د شتمنیو تر لاسه کول - 250	مجموعه	د عادي بودجې په مجموعه کې د ونډې سلنه	تشکیل 1392
3 - د زیربناوو او طبیعي زیرمو سکتور	**2,331,382**	**824,040**	**77,250**	**3,232,672**	**1.6%**	**16,322**
د جیودوزي او کارتوګرافي ریاست	105,500	39,500	2,250	147,250		700
د چاپیریال ساتنې ملي اداره	105,000	60,000	5,000	170,000		850
د ښار جوړولو چارو وزارت	164,500	75,000	10,000	249,500		874
د اوبو او انرژۍ وزارت	400,000	135,000	10,000	545,000		2,996
د ترانسپورټ او ملکي هوانوردۍ وزارت	345,000	180,500	11,000	536,500		2,100
د ټولګټو وزارت	446,900	78,750	8,000	533,650		3,076
د مخابراتو وزارت	387,482	106,000	10,000	503,482		2,792
د کانونو وزارت	353,000	140,000	18,000	511,000		2,834
د افغانستان د اتومي انرژي عالي کمیسیون	24,000	9,290	3,000	36,290		100
4 - د پوهنې سکتور	**28,949,679**	**4,987,255**	**112,848**	**34,049,781**	**17.4%**	**274,658**
د علومو اکاډمي	122,161	28,847	5,000	156,008		483
د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت	548,438	274,449	14,115	837,002		3,892
د لوړو زده کړو وزارت	1,571,721	1,594,066	25,000	3,190,787		10,827
د پوهنې وزارت	26,676,080	2,854,893	61,000	29,591,973		258,996
د ښوونځیو حفظ او مراقبت		657,023		657,023		
د بدني روزنې او سپورټ ریاست	31,279	235,000	7,733	274,012		460
5 - د روغتیا سکتور	**1,904,701**	**1,421,151**	**70,000**	**3,395,852**	**1.7%**	**18,395**
د عامې روغتیا وزارت	1,904,701	1,421,151	70,000	3,395,852		18,395
په مرکز کې د کلینیکونو حفظ او مراقبت		451,151		451,151		
6 - د کرهنې او کلیو پراختیا سکتور	**1,563,800**	**452,061**	**20,600**	**2,036,461**	**1.0%**	**11,865**
د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت	393,795	200,319	10,000	604,114		2,125
د کرهنې اوبه لګولو او مالداری وزارت	1,087,960	195,979	7,600	1,291,539		9,281
د نشه یې توکو په وړاندې د مبارزې وزارت	82,045	55,763	3,000	140,808		459

سکتور - وزارت	د 1392 کال عادي بودجه په 000 افغانیو					
	مزد او معاشونه - 210	توکي او خدمتونه - 220	د شتمنیو تر لاسه کول - 250	مجموعه	د عادي بودجې په مجموعه کې د ونډې سلنه	تشکیل 1392
7 - د ټولنیز مصؤنیت سکتور	**1,430,110**	**862,194**	**23,250**	**2,315,554**	**1.2%**	**10,896**
له طبیعي پیښو سره د مبارزې له پاره د چمتووالي ملي اداره	44,518	50,985	2,250	97,753		363
د کوچیانو د چارو د همغږي کولو ریاست	21,690	19,929	4,000	45,619		228
د ښځو چارو وزارت	119,176	54,618	5,000	178,794		875
د سرحدونو، قومونو او قبایلو د چارو وزارت	176,309	222,076	4,000	402,385		1,207
د کډوالو او بیا را ستنیدونکو د چارو وزارت	147,831	54,388	3,000	205,219		1,000
دکار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت	920,586	460,198	5,000	1,385,784		7,223
8 - د اقتصادي چارو د اداري او د خصوصي سکتور د پراختیا سکتور	**1,732,455**	**950,706**	**104,500**	**2,787,661**	**1.4%**	**12,184**
د افغانستان د نورم او استندرد ملي اداره	36,775	28,500	5,000	70,275		300
د مرکزي احصائیې اداره	108,000	32,000	2,000	142,000		800
د کنټرول او تفتیش اداره	70,000	42,500	7,500	120,000		435
د اقتصاد وزارت	164,680	67,706	20,000	252,386		950
د سوداګرۍ او صنایعو وزارت	217,000	130,000	20,000	367,000		1,134
د مالیې وزارت	1,136,000	650,000	50,000	1,836,000		8,565
د سکتورونه مجموعه	**141,003,551**	**27,495,685**	**2,429,825**	**170,929,061**	**87.1%**	**837,253**
متفرقه او احتیاطي کوډونه						
د عوایدو د تادیې لپاره پیسې (900020)				250,000		
د پالیسۍ پورې اړونده بسپنې (900001)				800,000		
د بهرنیو پورونو د قسطونو ورکول (900003)				1,600,000		
په نړیوالو سازمانونو کې د وزارتونو غړیتوب (900008)				250,000		
د رتبو او معاشونو د پلې کولو د پروګرام لپاره بسپنې(ملکي کارکوونکي+ ښوونکي) (900005)				800,000		
د پي آر آر لپاره بسپنې (900009)				150,000		
د شهیدانو او معلولینو لپاره د تقاعد حقوق (900006)				4,250,000		
د سرکونو حفظ او مراقبت پیسې (900017)	-	1,500,000		1,500,000		
د سالنګونو د حفظ او مراقبت پیسې (900015)	-	300,000		300,000		

سکتور - وزارت	د 1392 کال عادي بودجه په 000 افغانیو					
	مزد او معاشونه - 210	توکي او خدمتونه - 220	د شتمنیو تر لاسه کول - 250	مجموعه	د عادي بودجې په مجموعه کې د ونډې سلنه	تشکیل 1392
د ملکي او نظامي کارکوونکود تقاعد حقوق (900007)				4,610,000		
د بیرنیو حالاتو لپاره احتیاطي پیسي (900002)				1,000,000		
د بانکونو د کمیشن لپاره بسپنې (900030)				500,000		
د معاشونو لپاره احتیاطي پیسي (د ملکي خدمتونو کارکوونکي) (900014)				80,000		
د سون د توکو لپاره احتیاطي بسپنې (900010)				500,000		
د کرکټ د ملي لوبډلې لپاره احتیاطي بسپنې (900023)				52,000		
د ځمکو د پیرودلو لپاره احتیاطي پیسي (900024)				650,000		
د مرکزي بانک د پانګې د کموالي د جبران لپاره پیسي (900029)				3,948,000		
د متقاعدینو د تیرو کلونو نا تادیه شوي حقونه (900031)				1,500,000		
د ارزښت لرونکو اسنادو د چاپولو لپاره احتیاطي بسپنې (900032)				99,246		
د دولتي تصدیو د انفصال لپاره احتیاطي بسپنې (900033)				22,412		
